د همجنس بازی بربادی او دهغه علاج



شیخ العرب والعجم عارف باللہ مجدد زمانہ

حضرت مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ

ادارہ تالیفات اختریہ

www.hazratmeersahib.com

دھمجنس بازی بربادی

او

دھغه علاج

شیخ العرب والعجم عارف باللہ مجدد زمانہ حضرت مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ

ادارہ تالیفات اختریہ

دحضرت تهانوی صاحب د لغړزنو څخه احتیاط..... ۳۴
د لغړزنو څخه د نظر دحفاظت طریقې..... ۳۶
یو شیطانی چال او دهغه څخه د ځان ساتلو طریقه..... ۳۷
د محبت دعوه مه کوه چې ځان دربانده کران دی..... ۳۸
دهمجنس بازی څخه د راکړځولو دمضمون مخالفت دقوم لوط عمل دی..... ۳۹
د لغړزنو څخه بې احتاطی دخدای دطلبکاره دپاره بربادی ده..... ۴۰
دبدنظری او مجازی عشق څخه د پرهیز انعام..... ۴۰
د کناوو اسباب ته نژدیکت په کناه کی د اخته کیدو سبب دی..... ۴۲
یوه ټوکه..... ۴۳
شیطان پر دیندارو باندی دیر کوښښ کوی..... ۴۴
لوی او کوچنی هلکوان یو ځای کیدل زهرقاتل دی..... ۴۴
تر ټولو سخت عذاب پر لواطت کونکی قوم باندی راغلی..... ۴۵
مجازی عشق لوی جرم دی..... ۴۶
دخدای دمخلوق سره دخیر خواهی معنی..... ۴۷
د بې احتیاطی تاوانونه..... ۴۹
دخدای دوست عالم دجوړیدو دپاره دمولانا تهانوی صاحب دوې نسخې... ۵۰
دعلمی استعداد دپاره دمولانا تهانوی صاحب دری نسخې..... ۵۱
کوچنی او لوی هلکوان دی یو ځای تکرار نه سره کوی..... ۵۱
دحضرت صاحب ددین خپورولو دپاره ناقراری او اخلاص..... ۵۲
یو څو شپې حرام ارمانونه په قربانولو سره دخدای دوستی عطا کیږی..... ۵۳
پر نفس باندی باید د نارینه په شان حمله وسی..... ۵۶
دقرآن شریف ویلو فضایل..... ۵۷
دقرآن شریف په آیتو سره د کمراه فرقو رد..... ۵۸
دقرآن شریف ویلو ادب..... ۶۰

دحضرت تهانوی صاحب د لغړزنو څخه احتیاط.....۳۴
د لغړزنو څخه د نظر دحفاظت طریقې.....۳۶
یو شیطانی چال او دهغه څخه د ځان ساتلو طریقه.....۳۷
د محبت دعوه مه کوه چې ځان دربانډی ګران دی.....۳۸
دهمجنس بازی څخه د راګرځولو دمضمون مخالفت دقوم لوط عمل دی.....۳۹
د لغړزنو څخه بې احتاطی دخدای دطلبګاره دپاره بربادی ده.....۴۰
دبدنظری او مجازی عشق څخه د پرهیز انعام.....۴۰
د ګناوو اسباب ته نژدیکت په ګناه کې د اخته کیدو سبب دی.....۴۲
یوه ټوکه.....۴۳
شیطان پر دیندارو باندی دیر کوښښ کوی.....۴۴
لوی او کوچنی هلکوان یو ځای کیدل زهرقاتل دی.....۴۴
تر ټولو سخت عذاب پر لواطت کونکی قوم باندی راغلی.....۴۵
مجازی عشق لوی جرم دی.....۴۶
دخدای دمخلوق سره دخیر خواهی معنی.....۴۷
د بې احتیاطی تاوانونه.....۴۹
دخدای دوست عالم دجوړیدو دپاره دمولانا تهانوی صاحب دوې نسخې...۵۰
دعلمی استعداد دپاره دمولانا تهانوی صاحب دړې نسخې.....۵۱
کوچنی او لوی هلکوان دی یو ځای تکرار نه سره کوی.....۵۱
دحضرت صاحب ددین خپرولو دپاره ناقراری او اخلاص.....۵۲
یو څو شپې حرام ارمانونه په قربانولو سره دخدای دوستی عطا کیږی.....۵۳
پر نفس باندی باید د نارینه په شان حمله وسی.....۵۶
دقرآن شریف ویلو فضایل.....۵۷
دقرآن شریف په آیتو سره د ګمراه فرقو رد.....۵۸
دقرآن شریف ویلو ادب.....۶۰

مقدمه

عارف بالله حضرتِ اقدس ولی کامل حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمة الله علیه د ۱۹۸۰ء څخه د بنګله دیش د خاص علماوو او خلکو پر دعوت باندی به هر کال د بنګله دیش سفر کاوه، په بنګله دیش کی تصوف او طریقت د حضرت صاحب په کوښښ سره را ژوندی سو او لوی لوی علماء، محدثین او مفسرین د حضرت صاحب پر لاس باندی بیعت سوه او ښار په ښار، کوڅه په کوڅه دخدای د محبت اور ولګیدی.

په داغه سلسله کی حضرت صاحب په ۱۹۸۶ء کی هم دبنګله دیش سفر وکړی، په دغه سفر کی هم پر خپل عادت باندی د حضرت صاحب پر څو ځایو او څو مدرسو کی ډیر تاثیرناکه بیانونه وسوه، په دغه سفر کی د حضرت صاحب یو بیان د مولانا عبدُالرحمٰن صاحب چې دحضرت صاحب خلیفه او د حافظیه امدادیه مدرسې مهتمم هم دی پر دعوت باندی پر ۲۱ د شعبان المعظم ۱۴۱۶ھ په مطابق ۱ د مئی ۱۹۸۶ء کی دهغه په حجره کی وسو چیری چې د مدرسې شاګردان او استاذان راټول وه او د حضرت صاحب خلیفه مولانا محمد علی چاند پوری صاحب او نور اکابر علماء هم موجود وه.

په دغه بیان کی حضرت صاحب د مولانا جلال الدین رومی او دهغه د پیر شمسُ الدین تبریزی قصې بیان کړې کوم چې خپلهٔ د عشقِ الٰهی، معرفت او محبت څخه ډکی دی په خپل زړه ورونکی او د درده ډک انداز سره بیان کړې او د حرام عشق ذلالت او کمتروالی او د عشقِ الٰهی لوړوالی او عزت یې بیان کړی، په خاصه یې په دغه زمانه کی په تیزی سره پر مخ تللې کناه همجنس بازی او د لغړزنو هلکوانو فتنه او دهغه څخه ددین او دنیا بربادی، په هغه کی د اخته کولو دپاره د نفس او شیطان چالونه او دهغه څخه د ځان ساتلو طریقې په تفصیل سره بیان کړې، کوم چې د بیانولو څخه نور

خلک حتی چی علماء هم وارخطا کیږی لاکن ځکه چی دغه ګناه او د حسن پرستی نوری ګناوی د سرطان په شان اُمّت بربادوی، ددې مرض د علاج دپاره د حضرت صاحب سره دحق تعالیٰ خاص کومک وو، په دغه خاطر حضرت صاحب د اوله سره څخه دغه مضمون په عامه بیانوی، تقریباً ۴۶ کاله خو ما د حضرت صاحب څخه دغه مضمون واوریدی.

یوواری یو سړی اعتراض وکړی چی ته د حسن پرستی مضمون ولی ډیر بیانوې نور مضمونونه ولی نه بیانوې، نو حضرت صاحب ورته وفرمایل چیری چی د وبا مرض راغلی وی نو آیا طبیب به هلته د ریزش او زکام دوا ورکړی؟ په دغه وخت کی د حسن پرستی مرض د وبا په شان ډیر دی، په داغه خاطر زه پر بدنظری او حسن پرستی باندی ډیر بیانونه کوم او وې فرمایل چی بعضی خلک دغه مضمون د بیانولو په خاطر پر ما باندی بدګومانه هم سی لاکن زه ددې پروا نه لرم، زه دخدای دپاره د خپل عزت فکر نه کوم او دغه مضمون بیانوم او مخته به یې نور هم بیانوم. دغه دحضرت صاحب د مُجدّد کیدو دلیل دی ځکه چی مُجدّد ددین د کومی شعبې دپاره را استول سوی وی دهغه څخه مخ نه سی اړولای، د مُجدّد کیدو شان یې په هر بیان او لیکنه کی ښکاره دی، الغرض په دغه بیان کی حضرت صاحب وخواصو، علماوو او د مدرسې وشاګردانو ته د تقوا دحفاظت دپاره ډیر مهم هدایات بیان کړه کوم چی د خپل ځان سره د ټینګ ساتلو لایق دی.

دغه بیان په کتابی شکل کی راجمع سو ددې نوم "د همجنس بازی بربادی او دهغه علاج" وټاکل سو، حق تعالیٰ دی دغه بیان تر قیامته پوری د اُمّتِ مسلمه دپاره ګټمند وګرځوی او پر حضرت صاحب باندی دی په کروړهاوو رحمتونه نازل کړی او په جنت کی دی لوړ مقام ورپه نصیب کړی، آمین

جامع او مرتب کونکی

یو خادم د حضرت مولانا شاه حکیم محمد اختر صاحب رحمة الله علیه

د همجنس بازی بربادی او دهغه علاج

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ کَفٰی وَسَلَامٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی اَمَّا بَعْدُ!

د اولیاوو د صحبت فایدې

مولانا رومی صاحب فرمایی که ته د اولیاوو سره ناسته ولاړه پیدا کړې، دهغو په صحبتو کی واوسیږې نو که تا دخدای د محبت تنده نه درلوده نو دخدای د محبت تنده به درته حاصله سی، د بزرګانو دخدای د محبت تنده ماتول هم زده ده اوپه سړی کی تنده پیدا کول یې هم زده دی، دخدای دوستان خالی دخدای دمحبت اوبه په چا نه چیښی بلکې څوک چې دخدای د محبت تنده نه لری نو دهغو تنده هم راپورته کوی، مولانا رومی فرمایی ـــ

گر تو طالب نیستی، تو هم بیا

که ته دخدای د عشق او محبت تنده نه لرې بیا هم ماته راسه ـــ

تا طلب یابی از آن یار وفا

چې تاته هم دخدای طلب، ناقراری او تنده درپه نصیب سی

اولیاء داسی وفاداره دوستان دی چې حق تعالیٰ تر قیامته پوری ددوی د ملګرتیا ښوالی ثابت کړی، حق تعالیٰ فرمایی **وَحَسُنَ أُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا** (سورت النساء) دچا د ملګرتیا صفت چې خپله حق تعالیٰ وکړی او د چا ملګرتیا ته چې حق تعالیٰ خپله ښه وفرمایی نو دهغو ماسوا د بل چا سره دوستی کوې؟

علّامه محمود نسفی رحمة الله علیه په تفسیر خازن کی لیکلی دی چې په دغه جمله **وَحَسُنَ أُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا** کی **حَسُنَ** د افعالِ تعجب څخه دی یعنی **مَااَحْسَنَ رَفَاقَتَهٗ** دغه خلک څنګه ښه رفیقان دی، یعنی حق تعالیٰ دغه

راښول غواړی چی دا څنګه ښه رفیقان دی چی زما تر ذاته پوری تاسی راورسوی، که تاسی ما ښه بولی نو دوی ولی ښه نه بولی؟ څوک چی تر خدای پوری سړی ورسوی نو هغه به ښه نه وی؟ یو شاعر وایی ؎

چاہیے اچھوں کو جتنا چاہیے
وہ اگر چاہیں تو پھر کیا چاہیے

ترجمه: ښه خلک خوښ که څونه چی یې خوښولای سې، هغه که موږ خوښ کړی نو بیا څه غواړې

یعنی که اولیاء هم زموږ سره محبت وکړی نو زما دوستانو! بیا خو سړی د لطف او خونده څخه مست سی. نو که په تا کی طلب نسته نو ته باید اولیاوو ته یا دهغو وخادمانو ته ورسې او حق تعالیٰ په قرآن پاک کی د فرمانبرداری په برکت غیر معصوم خلک دمعصوم خلکو سره یو ځای بیان کړه **مِنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ** (سورت النساء، آیت:۶۹) نبیان معصوم او بې ګناه دی او صدیقین، شهدا او صالحین معصوم نه دی لاکن د نبیانو د فرمانبرداری په برکت یې د معصوم خلکو سره غیر معصوم خلک یو ځای کړه او موږ ته یې دغه راوښول که تاسی هم د ګلانو(یعنی اولیاوو) سره اوسیدل غواړی نو خپل زوزان د اولیاوو د ګلانو سره دهغو د فرمانبرداری په ذریعه ومښلوی. زما شعر دی ؎

ہمیں احساس ہے تیرے چمن میں خار ہے اختر
مگر خاروں کا پردہ دامن گل سے نہیں بہتر

ترجمه: زه دا احساس لرم چی زه ستا په باغ کی زوز یم، لاکن د زوزانو پرده د ګلانو په لمن کی کیږی

کړی، ځکه چې د نعمت حاصل شکر ادا کول دی لاکن کوم شخص چې دخدای په ذکر اخته دی هغه کواکې دخدای سره ناست دی لهذا د نعمت ورکونکی سره ناست شخص د نعمت تر استعمال کونکی شخص افضل دی، په دې خاطر یې ذاکرین اول بیان کړه او شاکرین یې وروسته بیان کړه، حق تعالیٰ شاکرین په دوهمه درجه کی بیان کړه ځکه چې هغه نعمتونه استعمالوی او ذاکرین دخدای سره ناست دی، دخدای نوم اخلی. دغه د **فَاذْكُرُونِي** اول او **وَاشْكُرُوا لِي** د وروسته بیانولو راز دی. وګوری دا د علّامه آلوسی سید محمود بغدادی رحمة الله علیه علوم دی.

(په دې دوران کی یو شخص دحضرت صاحب وخدمت ته راغلی د سلام وروسته حضرت صاحب دهغه خیریت وپوښتی او وې فرمایل چې) په شخصی مجلس کی دغه خوند دی چې هر وخت وغواړې خبره وکه او چې څه وخت وغواړې نو چپ کښینه، په بیان او شخصی مجلس کی دیر فرق دی، اوس وګوری ما ددغه سړی خیریت وپوښتې په بیان کی آیا یو بیان کونکی دچا خیریت پوښتلای سی؟ هغه بیچاره خو چې کوم مضمون شروع کړی وی په هغه مضمون کی قید وی، دهغه څخه نه یوې خوا ته تلای سی نه بلی خوا ته، او په شخصی مجلس کی سړی آزاد وی، په داغه خاطر شخصی مجلس د بزرګانو خوښ دی، په شخصی مجلس کی چې کومه ګټه وی هغه خاص ګټه وی، ځکه چې بزرګان په شخصی مجلس کی پر آرامه وی کله چې یې مضمون پر زړه راسی نو بیان یې کړی او چې رانه سی نو چپ کښینی، الله الله شروع کړی، سُبحانَ الله، الحمدُلله شروع کړی.

د شمس تبریز او مولانا رومی قصه

نو ما درته ویل انسان چې دخدای تنده ولری نو کله کله تنده لرونکو ته اوبه ورکونکی (یعنی اولیاء) ور واستول سی مثلاً یو شخص مجبوره

دی یا د سفر کولو پیسې نه لری یا هغه په دې خبر نه دی چې په دنیا کی دخدای د محبت اوبه ورکونکی خلک په کوم ځای کی دی، لکه څنګه چې شمس تبریز رحمة الله علیه ومولانا رومی صاحب ته ور واستول سو.

مولانا رومی صاحب شمسُ الدین تبریزی نه پیژندی لاکن په تلاښ کی وو چې دخدای د محبت اوبه ورکونکی یو شخص راپیدا سی، هلته بیا شمسُ الدین تبریزی وخدای ته دعا کول چې یاالله! یو داسی څوک راپیدا که چې ستا د محبت امانت هغه ته ور وسپارم، نو په خوب کی ورته وویل سوه، په خوب کی یې وخدای ته خواست وکړی چې یاالله! ماته خپل یو داسی بنده راپیدا که چې زما په سینه کی ستا د محبت کوم اور چې پروت دی هغه د مرګ تر مخه دهغه وسینې ته ور وسپارم، په خوب کی یې ږغ واوریدی چې اې شمس تبریزه! قونیه(ترکی) ته ولاړ سه هلته یو مولوی جلالُ الدین دی هغه ته ورسه، د جلالُ الدین رومی نوم یې هم واخیستی او د قونیه بنار نوم یې هم واخیستی، بوله د غیبو څخه ور وښوول سوه چې هغه زما د محبت تنده لری او زما څخه د لیرېوالی په خاطر ناقراره دی؛ هغه ته زما محبت ور زده که او په هغه زما د محبت شراب وچیښه.

اوس نو شمس تبریز د قونیه وښار ته ورسیدی او د وریجو په سرای کی کښیناستی، وریجی خرڅونکو ته په فارسی کی برنج فروش وایی، په داغه خاطر پیرینی ته شیر برنج ویل کیږی، پیرینی ته چې کوتلی وریجی، شیدې او کوتلی بادام پکښی کی وی هغه ته د لکهنؤ(هندوستان) په ژبه فیرینی او په عامه ژبه کهیر ویل کیږی او په صحرا کی پهرنی ورته ویل کیږی، په درو ژبو می تاسی ته خبره وکړه، بیا ونه وایاست چې صاحب نزول نه راوړی، د ف لغت می په بدل کړی، اوس نو تر دې نور نزول څه شی راوړم؟ د په وروسته خو بل توری نه سم راوستای.

نو د وریجو په سرای کی یو لوړ ځای وو چیری چې به د بنار عزتمن خلک او تجاران کښینستله، شمس تبریز هم راغلی هلته کښینستی او هغه خپل ځان پټ ساتلی وو، داسی نه معلومیدل چې یو دیر لوی بزرګ او شیخ دی ځکه چې د عام خلکو لباس یې اغوستی وو، د قلندر په شان یې خپل ځان پټوی لاکن د غلبې په خاطر یې دغه حال وو پر دې باندی عمل کول ضروری نه دی.

د علماوو لباس باید څنګه وی؟

علّامه شامی ابن عابدین رحمة الله علیه په کتاب شامی جلد ۵ **کِتَابُ الْحَظْرِ وَالْإِبَاحَةِ** کی لیکلی دی چې د علماوو لباس باید اوږد، پراخه او عزتمند وی، اوږد او پراخه یې ویلی وفرمایل؟ په خاطر ددې چې اُمّت د علماوو څخه ددین مسئله وپوښتی، که علماء کوچنی او لنډ کالی واغوندی نو بیا به دهغو څخه شرعی مسئله څوک پوښتی، ټوله خلک به پسخند په وهی، لهذا دهغو لباس باید تنګ نه وی، دهغو قمیص باید اوږد او عزتمند وی چې اُمّت یې وپیژنی او کټه ځنی واخلی، لاکن پر کومو اولیاوو چې حال غالبه وی هغه په دې کی شامل نه دی.

د مولانا رومی د شمس تبریز سره ملاقات

اوس نو مولانا رومی صاحب خبر سو چې د وریجو سرای ته د تجارانو په شکل کی یو شخص راغلی دی دچا د خبرو څخه چې دحق تعالیٰ محبت څخیږی تاسی ووایاست د شربتو د بوتل څخه به څه شی راتوییږی؟ شربت به راتوییږی، بس د اولیاوو د خبرو څخه دخدای محبت څخیږی، دهغو تر خولې بل شی را وتل مشکل دی، که خلک دهغو سره ددنیا یا د کاروبار خبری شروع کړی نو دهغو زړونه ناقراره سی.

خیر کله چی د مولانا رومی صاحب نظر د شمسُ الدین تبریزی د نظر سره ومښتی نو اللهُ اکبر عجب منظر وو، نظر چی د نظر سره ومښتی نو څه وسوه؟ بس د مولانا رومی صاحب کار سم سو، د اولیاوو په نظر سره هم کله څوک دخدای دوست سی.

د صالحینو د صحبت برکت

ملّا علی قاری رحمة الله علیه د مشکوٰة په شرح مرقاة کی فرمایی

إِنَّ عِنْدَ ذِكْرِ الصَّالِحِيْنَ تَنْزِلُ الرَّحْمَةَ فَضْلًا عَنْ وُجُوْدِهِمْ وَحُضُوْرِهِمْ

د اولیاوو په تذکرو سره دخدای رحمتونه اوری نو چیری چی دخدای دوست خپله موجود وی هلته به څونه انوار اوری

لهٰذا کله چی ته د اولیاوو وصحبت ته ورسې نو هلته دعا وکه ځکه چی ملّا علی قاری فرمایی **يَسْتَحِبُّ الدُّعَآءُ عِنْدَ حُضُوْرِ الصَّالِحِيْنَ** هلته دعا کول مستحب دی او ستا دعا به هم قبوله سی ځکه چی هلته رحمت اوری، فرمایی په زړه کی داغه دعا وکه چی یاالله موږ ټوله خپل دوستان وکرځوې.

د اولیاوو په مجلس کی دی هر شخص دا نور خلک صالح وبولی او کوم چی د مجلس امیر وی هغه دی بیا دا فکر وکړی چی حق تعالیٰ به ددونه راغلی صالحینو په برکت زما دعا هم راقبوله کړی. حاجی امدادُالله مهاجر مکی صاحب به فرمایل کله چی یو څوک دخدای دوستی د حاصلولو دپاره ماته راسی نو دهغه د قدمو دید زه د خپل نجات ذریعه بولم.

ځنی نادانه خلک د اولیاوو په استغنا د نه پوهیدو په خاطر دغه ووایی چی شیخ صاحب ته وګوره ځان څونه لوی بولی، که څه هم اولیاء په ژبه یو وخت داسی خبره هم وکړی چی په هغه کی لویی ښکاره کیږی لاکن دهغو زړه فنا وی.

د محبت په غلبه کی دخدای وطلبګارانو ته دمولانا رومی دعوت الی الله

کله چی پر اولیاوو باندی دخدای د محبت حال غالب سی نو بعضی وخت حق تعالیٰ دخلکو د هدایت دپاره دهغو تر خولې داسی خبره راوباسی چی په هغه باندی خلک دهغو درجه وپیژنی او دهغو فیض عام سی، لکه څنګه چی پر مولانا جلالُ الدین رومی صاحب باندی کله دخدای محبت غلبه وکړه نو په جوش کی یې فرمایل ؎

هین بیائید ای پلیدان سوی من

اې په ګناوو ناپاکه خلکو ما فقیر ته ژر راسی، ماته په ځغستا راسی، ددنیا په ناپاکه خواهشاتو او غلطو غلطو ګناوو اخته خلکو، ژر د جلالُ الدین سره راسی کښینی، په څه خاطر؟ فرمایی ؎

که گرفت، از خوی یزدان، خوی من

ځکه چی جلالُ الدین **مُتَخَلِّق بِأَخْلَاقِ الله** دی یعنی زه دخدای په اخلاقو مشرفه سوی یم، څوک چی جلالُ الدین ووینی هغه به حق تعالیٰ ووینی، او فرمایی ؎

بازِ سلطانم، گشم نیکو پیم
فارغ از مُردارم و کرگس نیم

زه د سلطان شاهی باز یم، اوس زه د مرداری خوړلو څخه فارغه سوی یم، اوس زه ښځو او لغړزنو هلکوانو ته نه ګورم، دا ټوله فنا کیدونکی دی، دا ټوله ختمیدونکی دی او زه کرګس یعنی ټپوس نه یم چی دغه مردار شیان وخورم. کله چی په ځنګله کی ګامیښه مړه سی نو ټپوسان ددې مړې

سوی کامیبسی پر شا او خوا کښینی، دغه مړه کامیښه هغوته وریجی او چرګ په نظر ورځی.

نو مولانا رومی صاحب فرمایی چی د شمس الدین تبریزی په صحبت سره اوس جلال الدین ددنیا د محبت څخه پاک سوی دی، د بنځو او لغړزنو او هر څونه کناوی چی دی د ټولو څخه زما زړه پاک سوی دی اوس زه د سلطان سره یعنی دحق تعالیٰ سره اوسیږم، لهذا اوس زه د مرداری(یعنی کناوو) څخه بیزاره سوی یم، اوس زه پر خدای باندی قربان یم، په دغه خاطر ماته راسی. معلوم سول چی څوک په کناوو اخته دی هغه شاهی باز نه دی ټپوس دی.

د شمس تبریز او مولانا رومی اول ملاقات او عاشقانه خبری

کله چی د مولانا رومی صاحب د شمس تبریز سره ملاقات وسو نو مولانا رومی ورته وویل چی ته د ډیر لوی نسبت خاوند بزرګ او لوی شخص رامعلومیږې، ستا د سترګو څخه ماته رامعلومیږی چی ته دخدای دوست یې، شمس تبریز ورته وویل چی دا ستا ښه ګومان دی کنې زه هیڅ شی نه یم، مولانا رومی ورته وویل چی ته هر څه راته ووایې لاکن ستا سترګی دغه رابنووی چی ته دخدای دوست یې، فرمایی ـــ

بوی می را گر کسی مکنون کند
چشم مست خویشتن راچون کند؟

دنیاوی شراب په چیښلو سره که څوک په هیل خوړلو سره د خولې بدبویی پته هم کړی لاکن خپلی مستی سترګی به څنګه پټوی؟ نو ای شیخه ته چی دخدای د محبت پاک شراب چیښې هغه ستا تر سترګو

راخخیږی، لکه څنګه چې یو څوک ددنیاوی شرابو بدبویی په هیلو پته هم کړی لاکن دهغه تر سترګو به دا معلوم سی چې ده شراب چیښلی دی همدغه رنګه ستا مستی سترګی دغه رابنوولی چې تا دخدای دمحبت شراب چیښلی دی، ته دخدای د محبت شراب په تهجد کې چیښې، دغه میخانه د شپې د دوولسو بجو وروسته خلاصیږی کله چې ته دخدای د محبت شراب په منګیانو منګیانو چیښې. مخته مولانا صاحب فرمایی ـــه

جرعهٔ بر ریز بر مازین سبو

اې په منګیانو منګیانو دخدای ذ محبت شراب چیښونکې! د خپل منګی څخه یو څاڅکی په ما هم وچیښه ـــه

شمهٔ از گلستان با ما بگو

اې شمس تبریزه! دخدای د محبت کوم ګلستان چې ستا په زړه کې دی دهغه په باره کې یو څه زما په غوږ کې هم راته ووایه ـــه

خونداریم، ای جمال مهتری
کہ لب ما خشک ـــ و، تو تنها خوری

اې سر تر نوکه ښایسته! زه ددې عادت نه لرم چې ته خو یوازی یوازی دخدای د محبت شراب چیښې او زما شوندان وچ وی

سُبحانَ الله دغه دی جلالُ الدین رومي صاحب، دمولانا رومی صاحب خپله ژبه فارسی ده لاکن په عربی هم ډیر پوه وو، د منقولاتو او معقولاتو جامع او د فلسفې او منطق امام وو لاکن فرمایل به یې چې فقط په عربی پوهیدل هیڅ کمال نه دی بلکې کمال دغه دی چې په علم سره

دخدای د محبت زخم پر زړه ولګیږی او پر علم باندی د عمل کولو توفیق حاصل سی. لهٰذا په ډیر درد سره علماوو ته نصیحت کوی ؎

اَیُّهَا الْقَوْمُ الَّذِیْ فِی الْمَدْرَسَة
کُلُّمَا حَصَّلْتُمُوْهُ وَسْوَسَة

اې په مدرسه کی درسی کتابونه ویونکو! هر څه چی تاسی ویلی دی هغه فقط وسوسه ده، دغه علم هغه وخت تاسی ته ګټمند کیږی کله چی دخدای د محبت زخم پر زړه ولګوی کوم چی بې له د بزرګانو د صحبتو نه حاصلیږی، فرمایی ؎

علم نبود اِلّا علمِ عاشقی
مابقی تلبیسِ ابلیسِ شقی

علم هغه وخت علم بلل کیږی کله چی په هغه دخدای محبت پیدا سی او هر څه سبق چی ویل سوی دی پر هغه باندی عمل وسی کنې دا علم نه دی فقط د ابلیس دوکه ده. حق تعالیٰ خو موږ د ځان کول غواړی لاکن موږ په خدای پسی نه ګرځو.

مولانا رومی صاحب فرمایی ؎

تشنگان گر آب جویند از جهان
آب هم جوید به عالم تشنگان

په دې دنیا کی د اوبو طلبګاره که په اوبو پسی ګرځی نو اوبه هم خپل په طلبګارو پسی ګرځی. ستاسی په دې خبره سر خلاص سو یعنی څوک چی دخدای په تلاښ کی وی نو خدای هم دهغه په تلاښ کی وی یعنی حق تعالیٰ دهغه دپاره ځان ته د نژدې کیدو اسباب پیدا کړی، دخدای

د طرفه څه دخپلی دوستی اسباب پیدا کیږی. وګوری مولانا رومی صاحب دخدای تنده درلوده نو حق تعالیٰ شمسُ الدین تبریزی هغه ته ورواستوی.

د شمس الدین تبریزی

د صحبت فیض

مولانا رومی صاحب او شمس تبریزی به په یوه حجره کی څو څو شپې په مراقبه کی وه، فقط د جماعت دپاره به را وتل نور به یې د هیڅا سره خبری نه کولې، عجب انداز وو ددې خلګو، څنګه عاشقان وه، کله چی دخدای د محبت اور د شمسُ الدین تبریزی د سینې څخه د مولانا رومی وسینې ته داخل سو نو د محبت په داغه اور سره د مولانا رومی صاحب په ژبه اته ویشت نیم زره(۲۸۵۰۰) شعره ادا سوه کوم چی دخدای د محبت د اوره ډک دی.

په دغه خاطر بزرګان دخدای په طلبګاره پسی ګرځی او دخدای طلبګاره په لیدلو سره هغه خوشحاله سی لکه څنګه چی مولانا شاه محمد احمد صاحب فرمایی ؎

ترا آنا میرے احساس میں جانِ مسرت ہے
مگر جانا ستم ہے، غم ہے، حسرت ہے، قیامت ہے

ترجمه: ستا راتګ زما په احساس کی خوشحالی جوړه کړی، لاکن تګ دی ظلم دی، غم دی، ارمان دی، قیامت دی

څوک چی د مولانا شاه محمد احمد صاحب دید ته راسی نو حضرت صاحب هغه ته ډیر محبت ورکړی او دغه لوړ شعر ورته ووایی او کله چی څوک ورته ووایی چی اوس نوږه ځم، نو هغه ته فرمایی ؎

ظالم یہ آج منہ سے تیرے کیا نکل گیا
جانے کا نام سن کے مرا دل دہل گیا

ترجمه: ظالمه دا نن ستا تر خولې څه را ووتل، د تک نوم چې می واوریدی نو زړه می ولړځیدی

پر شاه محمد احمد صاحب باندی دخدای د محبت غلبه ده، پر چا چې څنګه رنګ غالب سی دهغه هغسی شان وی، دمولانا رومی صاحب شان همداسی وو.

بزرګان د عاشقانو په غوږو پسی کرځی چی موږ د محبت رازونه چاته بیان کړو؟ ځکه چی هغه دا وینی چی ټوله خلک دخدای د محبت څخه بیګانه دی، دخلګو زړونه ددنیا ډک دی، ټوله ورځ خوراک او چیښاک یعنی د شپې یې وخوړه سهار یې وکړه لاکن کوم ربّ چی خپلو عاشقانو ته د خپل محبت درد ورکوی نو هغه خدای دغه درد د نشرولو دپاره هغوته اوریدونکی هم ورکوی ځکه چی حق تعالیٰ دا غواړی چی په ټوله دنیا کی زما نوم واخیستل سی لهٰذا دخدای عاشقان به تر قیامته پوری موجود وی، یو څه خلک به داسی موجود وی کوم چی د خدای د محبت خبری اوریدلو ته به ناقراره وی او یو څه خلک به داسی موجود وی کوم چی د خلګو زړونه به دخدای په محبت کی ناقراره کونکی وی.

د مولانا رومی صاحب د صلاح الدین زرکوب سره ملاقات او ملګرتیا

د شمس الدین تبریزی د وفات وروسته چی مولانا رومی صاحب یوازی سو او ډیر ناقراره سو نو دخدای د محبت رازونه د بیانولو دپاره د یو

رفیق په تلاښ کی سو لهذا مولانا رومی صاحب ته اول صلاح الدین زرکوب وریبدا سو، هغه د سرو زرو دوکان درلودی چیرتی چی به هغه زر کوتل، کوم ځای چی زر جوړیږی کله چی په چکوش سره زر کوتل کیږی نو دهغه ډیر خوندور ږغ وی، ددې داسی ږغ وی کله چی مولانا رومی صاحب د صلاح الدین زرکوب د دوکان ومخته تیر سو نو دغه ږغ په اوریدلو سره دخدای په محبت کی مست سو او اوړې د دوکان ومخته بې سده سو، صلاح الدین زرکوب چی دمولانا رومی صاحب دغه حال ولیدی نو د دواړو سره دوستی سوه.

بیا مولانا رومی صاحب هغه ته په غور کی داسی خبره وکړه چی هغه د زرو دوکان خیرات کړی او د مولانا رومی صاحب سره یې اوسیدل شروع کړه، کله چی دخدای محبت خوند ورکړی او د زرو او سپین زرو پیدا کونکی ږت خوند یې تر خوله سو نو توله زر یې خیرات کړه او د غفلت څخه را بیداره سو، مولانا رومی صاحب دهغه سترکی ورخلاصی کړې چی تر څه وخته به د زرو په دوکان کی په غفلت بیده یې، زرکوب چی د زرو خالق حاصل کړی نو د مولانا رومی سره یې اوسیدل شروع کړه، نه کاله یې د مولانا رومی صاحب په صحبت کی تیر کړه، کله چی هغه وفات سو نو مولانا رومی صاحب بیا ناقراراه سو.

تر څو چی شمس تبریز ژوندی وو نو مولانا رومی صاحب دهغه سره وو، دهغه وروسته د صلاح الدین زرکوب سره واوسیدی کله چی هغه هم وفات سو نو وخدای ته یې خواست وکړی چی جلالُ الدین رومی ته خپل یو طلبګاره راکړې چی زه دهغه سره ورځی تیری کم او دهغه سره ستا دمحبت خبری وکړم. یو خوند حق تعالیٰ یوازی په یادولو کی وی او یو خوند دخدای په عاشقانو کی دخدایٔ ذات په یادولو کی وی، ددې دواړو خوندو

ذکر په حدیث شریف کی دی چی اِنْ ذَکَرَنِیْ فِیْ نَفْسِهٖ ذَکَرْتُهٗ فِیْ نَفْسِیْ وَاِنْ ذَکَرَنِیْ فِیْ مَلَاٍ ذَکَرْتُهٗ فِیْ مَلَاٍ خَیْرٍ مِّنْهُمْ (صحیح البخاری، باب مایذکر فیالذات والنعوات...الخ) حق تعالیٰ فرمایی چی ته ما یوازی یاد کړې نو زه به هم تا یوازی یاد کړم او چی ته ما په اجتماعی ډول یاد کړې نو زه به هم ستا ذکر په اجتماعی ډول باندی په ملایکو کی وکړم کوم چی تر تاسی ښه دی.

دمولانا رومی د حسام الدین چلپی سره ملاقات

لهٰذا مولانارومی دعا وکړه نو حضرت حسام الدین یې پیدا کړی، بیا تر آخره پوری دهغه سره وو، مولانا رومی صاحب د حسام الدین سره ډیره مینه درلوده، د مثنوی شریف اته ویشت نیم زره(۲۸۵۰۰) شعرونه کوم چی د مولانا رومی صاحب په ژبه ادا سوه هغه به حسام الدین لیکل، دهغه پر خواهش باندی مثنوی شروع سوه چی شپږ دفتره او اته ویشت نیم زره شعرونه پکښی کی دی، کنې د مولانا رومی صاحب د مثنوی هیڅ اراده نه وه، حسام الدین ومولانا رومی صاحب ته خواست کړی وو چی حضرت صاحب په نثر کی چی ته دخدای د محبت کوم اور بلوې نو د محبت وهغه سکروټو ته ترتیب ورکه په شعر کی یې بیان که، بیا چی مولانا رومی صاحب شعرونه ویل شروع کړه نوحسام الدین به هغه لیکل او کله چی په لیکلو کی پنځه دفتره پوره سوه نو مولانا رومی صاحب وفرمایل ؎

سخت خاک آلود می آید سُخُن
آب تیره شد، سرچه بند کن

اې حسام الدینه! اوس د څاه دروازه بنده که ځکه چی اوس په اوبو کی خاوری راروانی دی، که د څاه څخه مسلسله اوبه را وکاږې نو خاوری راشروع سی لهٰذا څاه ته لږ وخت ورکه چی د لاندی دخوا څخه

بیا پاکی اوبه پکښی جمع سی او فرمایی مور هم لږ وخت غواړی، که مور مسلسله کوچنی ته شیدې ورکړی نو آخر به د شیدو پر ځای وینی راشروع سی، فرمایی ـــه

مدتی در مثنوی تاخیر شد

مهلتی بایست تا خون شیر شد

د یو څو شپو دپاره ما مثنوی بنده کړه ځکه چی یو څه وخت باید حاصل سی چی وینی شیدې سی. یو څو شپې وروسته کله چی یې د زړه د چینې څخه بیا دخدای د محبت اوبه راشروع سوې او زړه یې ښه د انوارو ډک سو او د زړه څخه یې انوار راڅڅیدل نو بیا یې حسام الدین راوغوښتی او وې فرمایل ـــه

ای حسام الدین، ضیاءالدین، بسی

میل می جوشد به قسم سادسی

حسام الدین، ضیاءالدین، دواړه نومان به مولانا رومی اخیستل، کله به یې حسام الدین ورته ویل کله به یې ضیاءالدین ورته ویل، اې حسام الدینه! وګوره اوس می د شپږم دفتر وطرف ته شوق کیږی او بیا د لیکلو جوش راپیدا کیږی، اوس بیا مضمونونه پر زړه را روان دی لهٰذا ژر لیکل شروع که، اوس د مثنوی شپږم دفتر شروع کیږی.

د مولانا رومی صاحب دخپل مرید سره عاشقانه تعلق

مولانا رومی صاحب وخپل مرید ته فرمایی ـــه

ای حسام الدین، ضیائی ذوالجلال

میل می جوشد مرا سوی مقال

اې حسام الدینه! ته د خدای روښنایي یې، پیر ومرید ته وایی، حق تعالیٰ دته مرید هم څنګه ورکړی وو، کله کله داسی شاګرد پیدا سی چې استاد پر هغه باندی ناز کوی، سُبحانَ الله! اې حسام الدینه! ته دخدای روښنایي یې، اوس بیا ماته د خبرو شوق را پیدا کیږی، اوس زه بیا خبری کوم، مثنوی بیا شروع کوم، اوس کاغذ او قلم را واخله، هوښیار سه، شپږم دفتر شروع کیږی.

مولانا رومی صاحب د حسام الدین سره ډیره مینه درلوده، په اصل کی په روح کی چې طلب وی او دخدای دپاره چې څوک پر یو چا قربانیږی نو بیا ددواړو سره محبت سی، محبت یو طرفه نه وی، وګوری د محبت ماده حُب ده، محبت لفظ د ادا کولو پر وخت دواړه شوندان سره مښلی که یا؟ که یوه شونده مښتل غواړی او بله شونده لوړه ولاړه سی نو د محبت لفظ هم نه سی ادا کیدای، د محبت په ماده کی نژدیکت دی، بس دواړه شوندان چې سره ومښلی بیا د محبت لفظ ادا کیږی لهذا څوک چې دخپل شیخ سره محبت کوی نو شیخ هم دهغه سره محبت کوی.

د مولانا رومی صاحب د حسام الدین سره دونه محبت پیدا سو او خدای هغه ته داسی مقام ورکړی چې مولانا رومی صاحب وحسام الدین ته فرمایي چې اوس زه د عام خلکو په تولی کی ستا صفت نه کوم ځکه چې زما په محبت سره ستا حاسدین پیدا سول، کله چې شیخ د یو چا سره ډیر محبت کوی نو بعضی نادانه حسد شروع کړی نو مولانا جلالُ الدین رومی صاحب حسام الدین ته فرمایي ـــه

مدحِ تو حیف است با زندانیان
گویم اندر مجمع روحانیان

زه چې ستا سره محبت کوم نو دغه محبت په لیدلو سره څو کسان پر تا باندې حسد کوی، دا زندانیان دی یعنی د نفس بندیان دی، ددنیا مریضان دی، په تا سوځی، ای حسام الدینه! ستا په صفت سره حاسدین په غم اخته دی چې مولانا رومی ولی دده سره مینه کوی، اوس به زه ستا صفت چیرې کوم؟ په نااهلو کې به یې نه کوم، اوس زه یو څو دخدای دوستان پیدا کوم چې د حسد څخه پاک دی، کوم چې د روحانی مرداریو او غلاظتو څخه پاک سوی دی په داسی روحانی خلکو کې زه ستا صفت کوم، کوم چې دخدای عاشقان دی، د رقابت او حسد څخه پاک سوی دی دهغو په ټولې کې زه ستا صفت کوم، زه لاس نه اخلم، شیخ ومرید ته وایي، وګورې دغه مرید څونه مبارک او خوشبخته دی، په داغه خاطر شاه محمد احمد صاحب فرمایي ــــ

یوں تو ہوتی ہے رقابت لازماً عشاق میں
عشقِ مولیٰ ہے مگر اس تہمتِ بد سے بَری

ترجمه: دښمني خو لازمه وی په حرام عشق کی، لاکن دخدای عشق ددې تهمت څخه خلاص دی

د یوې بنځی که دوه عاشقان وی نو ددواړو تر مابین چرې سره راووځی، یو شاعر وایي ــــ

نہ ملا غیر ہوگیَ خیر
ورنہ تلوار چل گیَ ہوتی
چاہتے وہ اگر تو میری دال
ان کی محفل میں گل گیَ ہوتی

ترجمه: معشوق تر لاسه نه سو خیر سو، کنې توری به را ایستل سوی وای، که هغه غوښتی وای نو زما نخود به دهغه په مجلس کی پخسوی وای

لاکن دخدای محبت ددې تهمت څخه پاک دی، دخدای په عاشقانو کی هیڅ وخت جنګونه نه کیږی، ټوله عاشقان یو پر بل قربانیږی، دخدای د پاک محبت عاشقان هم پاک وی، د حسد، جنګ، بغض، کینې، یو د بل بد خوښول ددې شخړو څخه هغه پاک وی، تاسی وګوری چی د اولیاوو تر مابین څونه محبت وی. ددې وروسته مولانا رومی صاحب فرمایی ـــ

قصد کردستند این گِل پاره ها

که بپوشانند خورشیدِ تورا

اې حسام الدینه! دغه حاسدین د خاورو لوټی دی، ددوی نیت خراب دی، حق تعالیٰ ته د خپل دوستی لمر جوړ کړی یې نو دوی دغه غواړی چی پر هغه باندی خاوری واچوی، دوی ستا دخدای سره د تعلق لمر پټول غواړی لاکن دوی به کامیابه نه سی. همدغه رنګه ددې عشرت صاحب دپاره (دحضرت صاحب د خاص خادم نوم عشرت جمیل صاحب دی) زما په مثنوی "مثنوی اختر" کی زما یو شعر دی وې ګوری ـــ

جانِ عشرت عشرتِ جانِ من است

جانِ او هر لحظه مستانِ من است

یعنی عشرت جمیل زما دپاره خوشحالی ده، هغه زما دپاره هره لحظه مستی ده.

خیر مولانا حسام الدین د مولانا رومی صاحب سره تر آخر عمره پوری وو. کله چی د مثنوی شریف اته ویشت نیم زره شعرونه مکمل سوه، په سلهاوو قصې پکښی کی بیان سوې نو حق تعالیٰ دغه مثنوی شریف

د الهامی کیدو په ثبوت کی خپل غیبی مضمونونه دمولانا رومی صاحب د زړه څخه ایسته کړه نو مولانا رومی صاحب پوه سو چی اوس مثنوی شریف ختمیږی او حق تعالیٰ دغه آخری قصه نیم حاله پریښول غواړی، لهٰذا وې فرمایل ؎

چون فتاد از روزن دل آفتاب
ختم شد وَاللّٰهُ اَعْلَم بِالصَّوَاب

زما د زړه ومخته چی دحق تعالیٰ د علم کوم لمر مضمونونه را اچول هغه ډوب سو لهٰذا اوس مثنوی شریف ختمه سوه، ددې وروسته د مولانا رومی صاحب د ژوند لمر هم ولویدی یعنی هغه هم وفات سو، په جنازه کی یې دونه انسانان وه چی سهار وفات سوی وو لاکن هدیرې ته تر رسیدو پوری ماښام سو او د ماښام پر وخت ښخ سو.

د مدرسې ومهتمم صاحبانو ته مهم هدایات

اوس ددې وروسته د مدرسو په باره کی ډیر ضروری مضمون درته بیانوم، د ټولو تر مخه د مدرسو ومهتمم صاحبانو ته دا وایم چی دخپلی مدرسې پر ټولو شاګردانو باندی پام وکړی که څه هم هغه په دارُالاقامه کی اوسیږی او که د دباندی څخه راځی، دا وګوری چی څوک د چا سره ډیر کښینی او ولاړیږی، څوک د چایو پر دوکان، د میټایو پر دوکان یا پر داسی نورو دوکانو باندی کښینی، ددې اخلاقی پام باید وسی.

دلغړزنو څخه بدنی خدمت اخیستل دفتنې سبب دی

مهتمم صاحبان او استاذان دی د یو ځوان هلک څخه کوم چی لغړزنی وی یعنی دچا چی ږیره نه وی راغلې دهغه څخه دی بدنی خدمت نه اخلی او که یې ږیره راغلې وی لاکن هغه ته په کتلو سره د نفس شوق

ورته کیږی نو هغه هم د لغړزنو په حکم کی داخل دی، په هغه دی هم لاس او پښې نه چاپی کوی.

لهذا په هر هلک کی چې ذره غوندی، د یوې تکی په اندازه هم کښښ وی نو په هغه هیڅکله بدنی خدمت مه کوه کنې شیطان سړی خطاباسی او یو تکی حسن سل چنده وربښکاره کړی لکه څنګه چې په دوربین کی کوچنی شی لوی معلومیږی همدغه رنګه د شیطان د حسن یو تکی سل چنده ښکاره کول ښه زده دی، د شیطان سره د ګمراهی ټول اسباب سته، د ګمراهی چې څونه اسباب دی هغه ټوله شیطان ته ورکړل سوی دی او دا عجب اسباب دی، پر چا چې دحق تعالیٰ د اسمِ مضل تجلا وی نو آیا دهغه سره به د ګمراهی د یو سبب کمی وی، لهذا ددې مردود څخه باید دخدای پناه وغوښتل سی.

د کوچنی ږیره لرونکو هلکوانو څخه هم باید احتیاط وسی

لهذا تر څو چې د یو هلک پوره یو مټ ږیره رانه سی دهغه څخه د سخت احتیاط ضرورت دی، د لغړزنو او کوچنی ږیره او بریتونه لرونکو هلکوانو څخه هم د سخت احتیاط ضرورت دی. علّامه شامی لیکلی دی چې

بَعْضُ الْفُسَقَةِ يُفْضِلُ مَنْ نَبَتَ عِذَارُهُ عَلَى الْأَمْرَدِ خَالِي الْعِذَارِ

(ردالمحتار، مطلب فی ستر العورة)

یعنی بعضی فاسقان داسی هلکوان ډیر خوښوی د چا چې کوچنی کوچنی ږیری راغلی وی.

او ددې سبب څه شی دی؟ شیخ سعدی شیرازی صاحب فرمایی کله چې د تورو وریځو څخه سپوږمی راووځی نو ډیره روښانه معلومیږی

نو د خوانان هلکوانو د کوچنی کوچنی ریږو په خاطر دهغو پر مخ باندی د حسن روښانیي ډیره سی، لهذا دهغو څخه د سخت احتیاط ضرورت دی.

د لغړزنو څخه بدنی خدمت اخیستل

ګناه جاریه جوړه سی

په لغړزنو هلکوانو باندی پښې چاپی کول ګناهِ جاریه جوړه سی یعنی هغه استاد خپله هم په فتنه اخته سی او وروسته یې شاګرد هم دغه وایی چی زما استاد خو پښې په نورو هلکوانو چاپی کولې لهذا دا هیڅ پروا نه لری زه یې هم په چاپی کوم او دغه رنګه ددې ګناه سلسله مخته روانه وی.

بعضی وخت ځنی اولیاوو چی هغوته د لغړزنو هلکوانو څخه هیڅ فتنه او تاوان نه رسیدی نو هغو دخپل نفس د پاکی په خاطر په لغړزنو هلکوانو باندی لاس او پښې چاپی کړې، لاکن که نور خلک ددې شی نقل وکړی چی زمور بزرګانو هم په لغړزنو باندی لاس او پښې چاپی کړی دی مور یې هم په چاپی که وو نو د بزرګانو دغه نقل به د فتنې سبب جوړ سی ځکه چی د بزرګانو په شان د هر سړی نفس پاک نه وی.

بزرګانو چی پر کومو شرایطو باندی عمل وکړی عام خلک به دهغو شرایطو پابندی ونه کړی لهذا په کومو کارو کی چی د شرایطو پابندی ختم سی یا د شرایطو پابندی د نه کیدو سخت خطر وی او په فتنه کی د اخته کیدو قوی اندیښنه وی نو داسی کار مه کوی، سخت احتیاط ورڅخه وکړی. لکه څنګه چی علّامه شامی په فتاوا شامی **کِتَابُ الْحَظْرِ وَالْاِبَاحَةِ** کی د سماع په سلسله کی لیکلی دی چی په اولو وختو کی ځنی خلکو په خو شرایطو سره د قوالی مجلسونه شروع کړی وه لاکن تولو علماوو هغه ناروا او

حرام بللی وه څکه چې پر هغه شرایطو باندی عمل کول عادتاً ناممکنه وه لهذا قوالی خو حرامه ده لاکن د نظام الدین اولیاء رحمة الله علیه په بیان کړی څلور شرطو سره شعرونه اوریدل کیدای سی، شعرونه قوالی نه دی.

دحضرت نظام الدین اولیاء د شعرو د اوریدلو څلور شرطونه

اول شرط: مسمع کودک وزن نباشد یعنی شعر ویونکی به لغړزنی یعنی بې ړیړی او بې بریتو هلک نه وی او نه به ښځه وی، د ښځو او لغړزنو هلکوانو څخه نعت شریف اوریدل هم منع نه دی.

دوهم شرط: سامع اهلِ هوا نه باشد یعنی شعر اوریدونکی به د نفس او حرام خواهشاتو خاوندان نه وی چې دعشق شعرونه په اوریدلو سره دنیاوئ معشوق ورپه یاد سی بلکې شعر اوریدونکی به توله دخدای دوستان وی او د نفسانی محبت څخه به پاک سوی وی، پر هغو باندی به د روحانیت غلبه وی، دهغو زړونه به پاک، صاف او روښانه وی.

دریم شرط: مضمون خلافِ شرع نباشد یعنی د شعرو مضمون به د شریعت خلاف نه وی، لکه څنګه چې نن سبا قوالی ویونکی د شریعت خلاف مضمونونه وایی، مګکه او آسمان سره یو کړی، نبی تر خدای بالا کړی او نَعُوذُبِالله اولیاء دخدای په حکومت کی شریکان په بللو سره اُمَّت ګمراه کوی، خدای وَحدهُ لاشریک دی، هغه هیڅ شریک نه لری، توله اختیار دخدای دی.

څلورم شرط: آلهٔ لهو و لعب نه باشد او څلورم شرط دا دی چې د غزلو اسباب طبله او سازونه به نه وی چې دا توله حرام او ګناهِ کبیره دی.

د شعرو حکم

دحضرت عایشه رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت دی چی د شعرو په باره کی دنبی علیه الصلوٰة والسلام څخه پوښتنه وسوه چی د شعرو حکم څه شی دی؟ نو نبی علیه الصلوٰة والسلام وفرمایل **هُوَ كَلَامٌ فَحَسَنُهُ حَسَنٌ وَقَبِيحُهُ قَبِيحٌ** (السنن الکبریٰ، باب شهادة الشعراء) شعر یو کلام دی بس که شعر ښه دی نو (اوریدل یې) ښه دی او که (شعر) بد دی نو (اوریدل یې) بد دی.

بزرګانو لیکلی دی چی د شعرو مثال د حوض په شان دی، که په حوض کی ناپاکه اوبه یې او څوک حوض ته ور ولویږی نو به ناپاکه سی لاکن که په حوض کی د ګل ګلابو عرق دی نو هغه ته په ور لویدو سره به تولـه بدن خوشبویی واخلی، بس که په زړه کی دخدای محبت سته نو ښه شعرونه په اوریدلو سره به په زړه کی دخدای په محبت کی جوش پیدا سی او که په زړه کی د ښځو او لغړزنو عشق دی نو خیال به دهغو وطرفته ور وګرځی.

نو ما عرض کاوه چی زمور بزرګانو فرمایلی دی او زما هم داغه صلاح ده چی استاذان او مهتمم صاحبان دی په هلکوانو تر هغه وخته لاس او پښې نه چاپی کوی تر څو چی دهغو یو مت ږیری رانه سی یعنی عمر یې دونه دیر سی چی پوره یو مت ږیری یې راسی، دغه خبره چی زه درته کوم ددې زه هر ځای اعلان کوم چی دغه مسئله داسی ده که مور په لغړزنو هلکوانو باندی لاس او پښې چاپی کول شروع کړل نو زمور چی څونه مریدان دی هغه به دغه د ځان دپاره مثال جوړ کړی چی زمور پیر هم په هلکوانو باندی لاس او پښې چاپی کړی دی کیدای سی دا یو ښه کار وی، بیا چی هغه هلکوان استاذان سی نو په لغړزنو هلکوانو به پښې چاپی

کوی او دا به دونه لو فتنه وی کوم چی په لیکنه کی نه سی راتلای. اوس نو پاته سو د لغړزنو شاګردانو او مریدانو دغه پوښتنه که موږ د خپلو بزرګانو خدمت ونه کړو نو موږ ته به فیض څنګه حاصلیږی؟

نو د فیض حاصلولو نسخه واوری چی په لغړزنو باندی هیڅ بدنی خدمت مه کوی، هو کالی په پریولی؛ چای په پخې کړې، جارو په وکړی لاکن بدن ته یې مه پریږدی، تر څو چی یې پوره یو مټ ږیره را نه سی او تر څو چی په هغو کی ذره غوندی حُسن پاته وی تر هغه وخته بدنی خدمت مه په کوی او دا فیصله پر ږیری باندی هم نه ده بلکې ته د خپل زړه څخه دا فیصله وکه چی د یو ږیره لرونکی هلک وخوا ته خو دی ذره غوندی شوق نه کیږی؟ او که دی ذره غوندی شوق ورته کیږی نو بیا د پوره یو مټ ږیره لرونکی هلک څخه هم سخت احتیاط وکه، په دې به انشاءالله دخدای لاره درته آسانه سی.

د نارینه وو حیض

او هغه فیض کوم چی د حیض خطر لری دهغه فیض څخه توبه وکاږی، مولانا رومی صاحب فرمایی ؎

فَاتَّقُوْا اِنَّ الْهَوٰی حَیْضُ الرِّجَال

اې دنیاوالو، وبیریږی، نارینه وو ته هم حیض راځی او دهغو حیض هغه نفسانی خواهشات دی چی نارینه پکښی مبتلا سول، څنګه چی حیض لرونکې ښځه لمونځ نه سی کولای او دخدای ودربار ته د حاضری ورکولو لایقه نه وی همدغه رنګه کوم د نفس غلامان چی د نفسانی خواهشاتو په پوره کولو اخته سی هغه هم دخدای د دوستی څخه محرومه سی او هغه هم دخدای د عبادت لایق پاته نه سی.

دخدای طلبګاران دبربادولو دوه شیان

مولانا اشرف علی تهانوی صاحب فرمایي چی دخدای طلبګاره دوه شیان بربادوی، دهغو نفس هم فنا سی، کبر یې هم ختم سی لاکن شیطان دخدای طلبګاره د لغړزنی یا د ښځی په عشق اخته کړی او ټوله لار یې وربرباد کړی ځکه چی هغه په دې خبر دی چی د ښځی تر مخه هم شیطان دی او تر شا یې هم شیطان دی لهٰذا دخدای طلبګاره په دې شیانو اخته کړی، بیا د سړی روح پرواز نه سی کولای، لکه یو څوک چی مرغه په هوا کوی او بل سړی دهغه پر وزرو باندی سریښ ور ومښلوی نو آیا مرغه په هوا کیدای سی؟ بس شیطان چی څوک ووینی چی هغه دخدای دوستی غواړی، ذکر کوی، وخدای ته ژاړی نو پر هغه باندی د ښځو او لغړزنو د عشق سریښ ولګوی، بیا دهغه روحانی وزرونه فلج سی، بیا یې روح څنګه په هوا کیدای سی، وخدای ته څنګه رسیدای سی؟ په داغه خاطر دا ټوله شیان په شریعت کی حرام دی.

مولانا تهانوی صاحب فرمایي چی مجازی عشق عذابِ الٰهی دی، په دنیا کی هم مجازی عاشق ته آرام نه سی حاصلیدای او وې فرمایل د دوږخ چی کوم طبیعت دی هم هغه طبیعت د مجازی عاشق دی یعنی په دوږخ کی به سړی ته نه مرګ راځی نه به ژوند ورکول کیږی، همداغه حال د دنیاوی عاشقانو وی، دِ ښځو او لغړزنو په عشق اخته خلک هم په داغه حال وی لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى (سورت الاعلیٰ، آیت ۱۳) نه ژوند ورکول کیږی نه مرګ.

حضرت تهانوی صاحب فرمایي کله چی یو څوک بدنظری وکړی، نامحرمه ښځی ته وګوری او بیا تلاوت وکړی نو هغه ته تلاوت بیا خوند نه ورکوی، ذکر به کوی لاکن خوند به نه ورکوی تر څو چی توبه ونه کاږی.

په بدنظری سره حق تعالیٰ دخپل عبادت خوند واخلی او بنده چې کله نوری کناوی وکړی مثلاً غیبت وکړی، درواغ ووایی، لمونځ قضا کړی نو د زړه رخ لږ غوندی دخدای دطرف څخه واوړی مثلاً زړه دخدای وطرف ته ۹۰ درجې متوجې دی بیا یې درواغ وویل، غیبت یې وکړی، لمونځ یې قضا کړی، روژه یې قضا کړه نو زړه لږ غوندی مثلاً ۴۵ درجې دخدای دطرف څخه واوړی لاکن یو څه کوښښ یې وکړی او توبه یې وکښه، قضا لمونځ او روژه یې راوګرځول نو د زړه رخ بیرته دخدای وطرف ته ۹۰ درجې سی لاکن که د حسن د خاوند سره یې زړه ولګوی هغه بنځه وی که هلک نو د زړه رخ یودم دخدای دطرف څخه ۱۸۰ درجې واوړی یعنی دخدای وطرف ته شا سی او مخ دهغه حسن د خاوند وخوا ته سی.

اوس نو که لمونځ هم کوی نو زړه یې دخدای وطرف ته نه وی، دهغه حسن د خاوند خیال یې په زړه کی وی، بدن خو یې دخدای په حضور کی ولاړ وی لاکن زړه یې دهغه حسن د خاوند په یاد اخته وی، دونه تاوان سړی ته رسیږی، زما دوستانو! دونه تاوان په هیڅ ګناه سره نه رسیږی څونه چې په بدنظری او مجازی عشق سره رسیږی.

په کان پور(هندوستان) کی یو ملا صاحب وو کوم چې د بزرګانو صحبت یافته نه وو، هغه پر یو هلک اکبر حسین باندی عاشق سو، نو هغه ویل کله چې زه اَللّٰهُ اَکْبَر ووایم نو هغه اکبر حسین راپه یاد سی. تاسی ووایاست څونه تاوان ورسیدی، تکبیر اَللّٰهُ اَکْبَر وایی یعنی الله تر ټولو لوی دی لاکن زړه یې بل ځای دی، زړه یې د اکبر حسین سره لګیدلی دی. آه د غیرُالله په عشق کی دونه تاوان سړی ته رسیږی، په داغه خاطر بزرګان فرمایی چې په بدنظری او مجازی عشق کی د خرابی خاتمې اندیښنه سته، حق تعالیٰ دی مور ټوله څنی وساتی.

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د لغړزنو څخه احتیاط

دغه په یاد وساتی زمور مشرانو چې پر کومه طریقه باندی عمل کړی دی پر هغه طریقه باندی ولاړ سی، امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ته وکوری څونه تقواداره وو، تر هغه به ډیر تقواداره څوک وی لاکن خپل شاګرد امام محمد رحمة الله علیه یې تر څو چې دهغه ږیره نه راغلله په درس کی یې همیشه خپل شا ته کښینوی، علامه شامی لیکلی دی چې

كَانَ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ صَبِيًّا وَكَانَ أَبُوْ حَنِيْفَةَ يُجْلِسُهُ فِيْ دَرْسِهِ خَلْفَ ظَهْرِهِ مَخَافَةَ خِيَانَةِ الْعَيْنِ مَعَ كَمَالِ تَقْوَاهُ (رد المحتار، کتاب الحظر والاباحة)

دونه لوی امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د حسن په خاطر امام محمد په درس کی شا ته کښینوی

نن سبا خلک ځان پهلوانان بولی وایی چې مور پر خپل نفس باور لرو او بعضی خلک بیا ددې څخه بیریږی چې صاحبه که زه د لغړزنو څخه احتیاط وکم نو خلک به ماکمتره بولی، اې وروره خپل عزت دخدای پر نامه قربان که، وکوری آیا نن څوک د امام ابو حنیفه صاحب ذکر په ذلت سره کوی چې هغه به امام محمد خپل شاته کښینوی داسی معلومیږی لکه د عشق بازی ماده چې یې درلوده او که خلک یې په دې قصې سره عزت کوی، څوک چې دخدای پر نامه خپل عزت قربان کړی او خدای د راضی کولو دپاره د مخلوق څخه ونه بیریږی نو دهغه د عزت څراغ هیڅوک نه سی وژلای.

دحضرت تهانوی صاحب د لغړزنو څخه احتیاط

تر حضرت تهانوی صاحب لوړ څوک دی؟ هغه د زمانې مُجَدِّد او د وخت امام وو، د مفتی اعظم مفتی محمد شفیع صاحب او مولانا ظفر احمد

عثمانی صاحب او د لوی لوی علماوو استاد او پیر هغه خپل وراره مولانا شبیر علی صاحب ته وفرمایل چې زه په کومه خونه کې تفسیر بیانُ القرآن لیکم هلته په تنهایی کې یو کم عمر او لغزنی هلک مه را استوه، ددې هلکوانو څخه احتیاط باید وسی.

همدغه رنګه یو عرب هلک زما په مدرسه کې سبق ویلی، زمور ژبه یې نه وه زده، دهغه سره به مور عربی ویل، دهغه ریږه هم پوره وه، یوواری زما سره یو ښار ته په سفر ولاړی، ما دغه فکر وکړی چې بیچاره مسافر دی، عرب دی نو بعضی دوستانو ته می وویل چې پښې یې ورچاپی کړی ځکه چې عرب دی او زمور میلمه دی، نو عرب چې یې چاپی کول شروع کړی نو هغه وویل کهربا کهربا یعنی ما مه چاپی کوی په ما کی برق دی، دغه بدنی خدمت دونه خطرناکه شی دی، وکوری دغه عرب احتیاط وکړی او وې ویل زما پښوَ ته لاس مه راوړی، که څه هم پښې چاپی کونکی شخص پوره یو مټ ریږه درلوده.

یو ډیر لوی محدث خپله ماته وویل چې زما استاد حضرت مولانا مسیحُ الله خان جلال آبادی رحمة الله علیه ډیر ښایسته وو او زه هم ډیر ښایسته وم، کله چې به هغه ماته سبق ویلی نو د محبت نظر خو پریږده د قصاب په نظر یې هم نه دی راته کتلی، نظر به یې کښته وو سبق به یې راته وایه. ووایاست نن دغه محدث صاحب خپل استاد حضرت مولانا مسیحُ الله خان صاحب کمتره او ذلیل بولی او که یې صفت کوی؟ هغه به زما ومخته ویل چې زما استاد څونه تقواداره وو چا چې پر ما باندی هیڅکله نظر نه دی اچولی، اللهُ اکبر اولیاوو څونه احتیاط کړی دی او مور دغه وایو چې خلک به څه وایی، د مسجد انتظام کونکی او د مسجد خلک به څه وایی؟ اې ورورہ په دې به ستا عزت نور ډیر سی.

د لغړزنو څخه د نظر د حفاظت طریقې

څوک چې دخدای پر نامه خپل عزت قربان کړی انشاءالله دهغه د عزت څراغ هیڅوک نه سی وژلای، ستا چې کوم هلکوانو ته د کتلو ذره غوندی شوق کیږی هغوته صاف ووایه چې تاسی زما ومخته مه کښینی، ماته تاوان رسیږی او زما خدمت هم مه کوی او که زما په درس یا بیان کی کښینی نو راسته یا چپه خوا ته کښینی، ستا چې کوم هلکوانو ته د کتلو شوق کیږی په درس کی هغه راسته یا چپه خوا ته کښینوه، مخته پوره ږیږی والا هلکوان کښینوه، په بیان کی خپل د مخ خلکو ته ګوره بیان کوه، کوم هلکوانو ته دی شوق کیږی پر هغو به دی نظر نه مښلی.

او که د یو چا ږیره کوچنی ده او دهغه زړه دا غواړی چې زه ستا خدمت وکم نو هغه ته ووایه چې زویه اودس تازه که دوه رکعته لمونځ وکه، ماته دعا وکه، دغه به زما د روح خدمت وی او د روح په خدمت کی هیڅ تاوان نسته، په دې خبره به هغه خوشحاله سی او تر چاپی کونکو به پر هغه باندی ډیر فضل وسی ځکه چې هغه دخدای دپاره لیریوالی اختیار کړی، انشاءالله خدای به هغه چاته هم خپل قرب ورکړی څوک چې لیری سو او هغه چاته به یې هم ورکړی چا چې د ځانه لیری کړی یعنی شاګرد او استاد دواړو ته ثواب حاصلیږی.

نن احتیاط وکه سبا چې دغه کوچنیان غټان سی نو بیا به خپلو شاګردانو ته وایی چې زما استاد زما څخه د نظر حفاظت کوی او زه یې خپل راسته یا چپه خواته کښینولم اې شاګردانو! نن زه هم داغه عمل کوم. ستا دغه عمل به صدقهٔ جاریه جوړ سی، اصلی خبره داغه ده چې د بدنی خدمت لاره بنده که، د مهتمم څخه نیولې بیا تر استاذانو پوری ټوله دی ددې سخته پابندی وکړی.

یو شیطانی چال او دهغه څخه ډغان

ساتلو طریقه

شیطان مومن بنده خطاباسی، بیروی یې که دی ډیری سترګی کښته کړې نو دغه هلکوان به یو د بله سره وایی چی وګوره دغه استاد خو د عشق مریض رامعلومیږی، دا خو د حسن د خاوندانو څخه بیږیږی، نو کله چې دغه وسوسه در واچوی نو شیطان ته ووایه چې هو زه پهلوان نه یم خدای زه ضعیفه پیدا کړی یم.

حق تعالیٰ فرمایی چې **خُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا** (سورت النساء، آیت: ۲۸) حق تعالیٰ انسان ضعیفه پیدا کړی دی. په داغه خاطر حق تعالیٰ فرمایی **لَاتَقْرَبُوْا** دوی ته نژدې مه اوسیږه کنې توله پهلوانی به دی هیره سی، که **لَاتَقْرَبُوْا** وې نو **لَاتَفْعَلُوْا** به سې او که **تَقْرَبُوْا** سوې یعنی دوی ته نژدې سوې نو **تَفْعَلُوْا** به سې یعنی ګناه به درڅخه وسی.

اې وروره! خدای راضی کړه مخلوق چې هر څه درته وایی دهغه پروا مه کوه، پر خدای خپل عزت قربان خو که بیا به داغه هلک توله ژوند ستا صفتونه کوی، کله چې لوی سی نو به وایی چې زما استاد زما څخه احتیاط کاوه او نورو هلکوانو ته به هم داغه نصیحت کوی، مور خو د مولانا مسیحُ الله خان صاحب د شاګرد څخه داغه واوریدل چې زما استاد ډیر تقواداره وو، دغه مو نه دی ځنی اوریدلی چې هغه د کمزوری زړه خاوند وو او زمور د حسن تاب یې نه درلودی، د هیڅا څخه مو دغه نه دی اوریدلی.

تاسی د امام ابوحنیفه صاحب صفت واوریدی که یا؟ علّامه شامی ،غوندی شخص د فقه په کتاب فتاوا شامیه کی پر کوم ځای باندی چې پر

حرام نظر باندی بحث کړی دی هلته یې د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه صفت کړی دی.

دمحبت دعوه مه کوه چې ځان در باندی ګران دی

زه دغه ډیر لوی او ډیر مهم مضمون درته بیانوم او زه په دې باره کی بې خوفه خبری کوم، اوس نو د چا چې زړه غواړی هغه دی زما د خبرو قدر وکړی ځکه چې حق تعالیٰ که حاصلول غواړی نو د مجازی عشق څخه به د ځان ساتلو تکلیف لازمی برداشتوی او که حق تعالیٰ حاصلول نه غواړی نو بیا دغه واوری چې ـــ

نہ لو نامِ الفت جو خودداریاں ہیں
بڑی ذلتیں ہیں، بڑی خواریاں ہیں

ترجمه: دخدای په لار کی قدم مه ایږده چې ځان در باندی ګران دی، په دې لاره کی ډیره رسوایی ده، ډیره ستړیا ده

لاکن دحق تعالیٰ د محبت په لاره کی وروسته بیا سړی ته انعام څه شی ورکول کیږی ـــ

لی فقیری بادشاہت ہوگئ
عشق کی ذلت بھی عزت ہوگئ

ترجمه: فقیری می واخیسته راته پاچاهی سوه، د عشق ذلت هم راته عزت سو

دهمجنس بازی څخه د راګرځولو د مضمون مخالفت دقومِ لوط عمل دی

زه دخدای د لاری په باره کی درته ګډیم، کوم خلک چی صحیح عقل لری، ذکر کوی، که دهغو په زړو کی ذره غوندی دخدای نور سته نو هغه دی زما د خبرو قدر وکړی او کوم خلک چی په فسق او فجور او په ضد او عناد اخته دی هغه دغه د لغړزنو او لواطت څخه د راګرځولو مضمون نه سی هضمولای او هغه داسی خبری کوی لکه قومِ لوط چی حضرت لوط علیه السلام ته وکړې.

کله چی حضرت لوط علیه السلام خپل قوم ته وفرمایل **اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ○ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ○ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖۤ اِلَّاۤ اَنْ قَالُوْۤا اَخْرِجُوْۤا اٰلَ لُوْطٍ مِّنْ قَرْيَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ○** (سورت النمل) آیا تاسی دغه د بې حیایی کار کوی حالاً چی تاسی ځان د عقل خاوندان بولی، آیا تاسی د نارینه وو سره شهوت کوی ښځی پریږدی، بلکې تاسی جهالت کوی، نو د قوم سره یې هیڅ جواب نه وو بې له دې چی یو د بله یې ویل شروع کړه چی د لوط خلک ته د خپل کلی څخه وباسه، دا خلک ځان ته ډیر پاک صاف وایی. (بیان القرآن) یعنی هغو د لوط علیه السلام مخالفت وکړی او هغه یې کمتره وبلی.

نو څوک چی د دین وطرف ته خلک رابولی هغه که پر هلک بازی باندی بیان وکړی او خلک ددې غلط کار څخه راوګرځوی او یو څوک هغه کمتره بولی یا یې مخالفت کوی نو پوه سی چی هغه د قومِ لوط عمل کوی لکه څنګه چی هغو لوط علیه السلام په کمتره بللو سره خبری

جوړی کړې اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ دوی ځان ته ډیر پاک صاف وایی. په دې خاطر دوستانو احتیاط وکړی او ددې مضمون قدر وکړی. مولانا اشرف علی تهانوی صاحب چی په دې باره کی په خپلو بیانو او ارشاداتو کی کوم شیان بیان کړی دی هغه ووایاست.

دلغړزنو څخه بې احتیاطی د خدای دطلبګاره دپاره بربادی ده

نن سبا په مدرسو کی څه حال دی، څونه کسان بربادیږی، دهغو ارواح خو غواړی چی موږ دخدای دوستان سو لاکن دهغو څخه حسن بازی نه پاتیږی، وَالله په قسم سره درته وایم که څه هم زما قسم مهم نه دی ځکه چی زه څه اهمیت نه لرم لاکن ځکه چی تاسی زما سره محبت کوی په دې خاطر درته وایم چی زما په دوستانو کی داسی خلک سته کوم چی دخدای دوستی غواړی او دخدای د عشق ډیره تنده لری لاکن د حسن بازی، شکل پرستی او هلک بازی په عذاب اخته دی، هغه دغه عادت پریښول غواړی لاکن حسن بازی نه ځنی پاتیږی، راته وایی چی څه وکم صاحبه نه راڅخه پاتیږی، کله چی د کوچنیوالی څخه دغه عادت په سړی پوری سی نو بیا تر څو چی د سر په سودا ددې د پریښولو کوښښ ونه سی تر آخری ساه پوری نه پاتیږی، په دې خاطر کوښښ وکړی اوس یې پریږدی.

د بدنظری او مجازی عشق څخه د پرهیز انعام

وګوری درواغ پریښول آسانه دی، غلا پریښول آسانه ده لاکن حسن پریښول، حسن ته نه نظر نه ور اړول دا ډیر مشکل مضمون دی، لهذا څوک چی د ډیر کوښښ څخه کار واخلی او ځان ځنی وساتی نو

انشاءالله ددې انعام هم ډیر لوی دی. ښه دغه راته ووایاست چی یو مزدور یو ساعت کار وکړی تا هغه ته مزدوری ورکړه لاکن یو پاچا راغلی هغه هم یو ساعت مزدوری وکړه نو د پاچا مزدوری به تر هغه یل مزدور ډیره وی که یا؟ همدغه رنګه که تا نفلی عبادت مثلاً تلاوت او داسی نور عبادت وکړی نو دا ستا بدن مزدوری وکړه او که تا د لغړزنو څخه نظر وساتی نو دا ستا زړه مزدوری وکړه او ځکه چی زړه د ټول وجود پاچا دی نو راته ووایاست چی د زړه مزدوری به ډیره وی که یا؟

نو د نظر په حفاظت کی او د حسن د خاوندانو څخه په لیری اوسیدو کی چی کوم غم وی هغه پر زړه تیریږی او زړه پاچا دی، پاچا چی کومه مزدوری کوی او دخدای په لاره کی چی کوم غم وړی هغه دنیا نه وینی، دنیا نفل کول خو وینی لاکن کوم خلک چی پر زړه باندی غم وړی، د زړه غلط غلط خواهشات قربانوی د هغو د زړو خبری دنیا نه پیژنی فقط خدای په هغه خبر وی، په دغه خاطر د پاچا پر عمل باندی حق تعالیٰ هغه ته مزدوری هم ډیره لو ورکړی او هغه ته د ایمان خوږوالی او خپل د محبت درد ورکړی او انشاءالله دغه درد به یوه ورځ ښکاره کیږی. کوم خلک چی د خپلو حرامو خواهشاتو خون کوی او غم پر ځان وړی یوه ورځ به داسی راسی چی د هغو د درد خوشبویی به حق تعالیٰ نشر کړی، اوس پر دې باندی زما یو شعر واوری کوم چی په هندوستان کی سوی وو ؎

ہائے! جس دل نے پیا خونِ تمنا برسوں
اس کی خوشبو سے یہ کافر بھی مسلماں ہوں گے

ترجمه: کوم زړه چی په کلو کلو د حرام خواهشاتو وینه وچیښل، دهغه په خوشبویی به دغه کافران هم مسلمانان سی، او ؎

اس کی خوشبو سے مسلماں بھی مسلماں ہوں گے

ترجمه: دهغه په خوشبویی به دغه مسلمانان هم په صحیح معنیٰ مسلمانان سی

د ګناوو اسباب ته نژدیکت په ګناه کی د اخته کیدو سبب دی

او دغه خبره هم واوری چی په دنیاداره خلګو کی د هلک بازی مرض ډیر نه وی ځکه چی هغوته په تعلیمی ادارو کی انجونی په آسانی سره په لاس ورځی او دهغو په خاطر په ګناه اخته وی، دغه مرض په مدرسو کی ډیر وی ځکه چی یو ملا او د ږیری خاوند د ښځی سره په خبره کولو کی شرمیږی لاکن هلکوانو ته وایی چی ته زما ورور یې، زما شاګرد یې، زما دینی ورور یې او په دغه بهانه ناروا تعلق ورسره جوړ کړی.

لکه څنګه چی نن سبا کومی ښځی چی بې حیا دی هغه وخپلو مړو ته د نامحرمه خلګو په باره کی دا وایی چی د پلانی سره پر خبرو او لیدلو باندی ماته ډیری خبری مه کوه، دهغه څخه په ما پرده مه کوه هغه خو زما دینی ورور دی، تګ او راتګ ته یې پریږده، پام کوه که دی په ما پرده وکړه، پوه سی چی دا ټوله بهانې دی او ډیر لوی زهر دی.

لهٰذا حضرت تهانوی صاحب فرمایی چی کومه ګناه کول آسانه سی نو دهغه ګناه څخه ځان ساتل مشکل سی لهٰذا د ښځو سره زنا کول دا ګناه د ملایانو دپاره مشکل ده ځکه چی ټوله هغه وینی چی امام صاحب د پلانی ښځی سره خبری کولې لاکن د هلکوانو سره پر خبرو باندی څوک بدګومانی هم نه سی پر کولای، لهٰذا ددې ګناه څخه د ځان ساتلو دپاره شاګردانو ته،

دخدای طلبګارانو او استاذانو ته ډیر احتیاط کول په کار دی، ځکه چی په دې ماحول کی دهغو دپاره خطر ډیر دی او په دنیاوی تعلیمی ادارو کی خلګو ته څوک هیڅ نه وایی ځکه چی هلته د ګناه او دخدای د نافرمانی څخه د ځان ساتلو هیڅ اهمیت نسته.

بعضی د فاکولتې هلکوانو دخدای د یو دوست په مجلس کی ناسته شروع کړه یا تبلیغ ته ولاړه نو دینداره سوه بیا مدرسې ته راغله نو هغو ماته شکایت وکړی چی دغه هلک بازی خو زموږ په فاکولته کی نه وه او ستاسی په مدرسو کی سته، ما ورته وویل د مدرسې سپکاوی مه کوی، زه ددې راز درښوم کله چی تاسی په فاکولته کی واست نو د انجونو سره یو ځای واست، پر تاسی باندی د ګناوو شوق مښتی وو په دې خاطر تاسی ته هیڅ تکلیف نه وو، تاسی د انجونو په بغل کی لاس اچولی دهغو سره یو ځای ګرځیداست، دحیوانانو په شان ستاسی ژوند وو، او مدرسو ته انجونی نه سی راتلای، دلته خو تقوا ورښول کیږی، بس چیری چی تقوا ورښول کیږی شیطان هلته ډیر کوښښ کوی او هغه د ګمراه کولو کوښښ کوی، تاسی خو په فاکولته کی خپله شیطانان واست، شیطان پر خپلو دوستانو باندی کوښښ نه کوی شیطان وایی دا خو زما ورونه دی.

یوه ټوکه

پر دې باندی یوه ټوکه راپه یاد سوه، یوه سیاسی مشر دخپل تقریر وروسته وویل چی نن زما په تقریر سره نالایقو هیڅ اثر وانه خیستی خلګو ته فایده ونه رسیدل، نه یې ناره ووهل، نه یې واه واه وکړی، څونه اوریدونکی چی وه ټوله خره وه، په دغه خاطر دهغو په هیڅ شی سر نه سو خلاص، یو سړی ورته وویل چی ښه موږ خره یو هغه دی چی تا په تقریر کی ویله زما ورونو، زما ورونو.

شیطان پر دیندارو باندی ډیر کوښښ وی

شیطان پر نیکانو او څوک چی دخدای دوست جوړیدل غواړی پر هغو باندی ډیر زیار کاږی چی هغه دخدای دوستان نه سی ځکه چی شیطان دا وینی چی دا به بیا زما د لاسه ووځی او دخدای دوستان به سی او پر هغو باندی زیار په دې کاږی که هغه دخدای دوستان سوه، عبادت گزاره سوه نو هغه به په لکهاوو نور خلک دخدای دوستان کړی لهٰذا دهغو اخلاق ور بربادوی چی دهغو ښه بدنامی وسی او هغه د لغړزنو په عشق کی د اخته کولو کوښښ کوی او ښایسته هلکوانو ته د کتلو مرض په وراچولو سره دهغو لاره ور بربادوی، تر دې حده چی په لواطت یې اخته کړی او په دنیا او آخرت کی یې رسوا کړی. لهٰذا ددې علاج داغه دی چی دخدای د یو دوست سره د اصلاح دپاره تعلق پیدا کړی او زما کتاب "د روح ناجوړی او دهغو علاج" ووایاست او د هغو هلکوانو څخه لیری واوسیږی چاته چی په کتلو سره نفس یوه ذره هم حرام خوند اخیستل شروع کړی او په هغو بدنی خدمت مه کوی، تر ټولو لو فتنه په داغه بدنی خدمت پیښیږی، په خاصه تر زنګنو پورته په چاپی کولو کی، لهٰذا مهتمم صاحبان او استاذان باید هیڅکله د هلکوانو څخه خدمت وانه خلی.

لوی او کوچنی هلکوان یو ځای کیدل زهرِ قاتل دی

دوهمه مهمه خبره دا ده چی لوی هلکوان دی د کوچنی هلکوانو سره نه اوسیږی کنې ددې پای دغه وی چی اول شوق بیا عشق بازی او په آخر کی شیطان لواطت په وکړی او دخدای طلبکاره کوم چی ذکر کوی دهغو دپاره خو په خاصه وایم چی د لغړزنو سره ناسته او ولاړه زهر دی،

دغه کار سړی دخدای څخه محرومه کړی او فقط محرومه یې نه کړی بلکې په لواطت سره یې مردود هم کړی.

تر ټولو سخت عذاب پر لواطت کونکی قوم باندی راغلی

په حدیث شریف کی دی چی کله دهلکوانو سره د لواطت گناه وسی نو ملایکی د بیری په خاطر آسمان ته ولاړی سی ځکه چی هغو پر لواطت کونکی قوم باندی د عذاب نازلیدل لیدلی دی چی کله حضرت جبرایل علیه السلام د حضرت لوط علیه السلام لواطت کونکی قوم لوړ اول آسمان ته یوړی.

علّامه ابن قیوم جوزی رحمة الله علیه لیکلی دی چی حضرت جبرایل علیه السلام د قومِ لوط کلی آسمان ته دونه لوړ پورته کړی چی د آسمان ملایکو ددې کلی د خرو او سپیانو آوازونه هم واوریدل او بیا یې دهغه ځای څخه ټوله کلی ومځکی ته را وغورځاوه او بیا یې د آسمان څخه ډبری هم پر واورولې. وګوری داسی عذاب پر هیڅ قوم نه دی راغلی، دا داسی خبیث عمل دی چی الله پاک پر دې باندی د خبیث عمل نوم کښیښوی او داسی عذاب یې ورکړی چی پوره کلی یې د چپه اړولو وروسته چی هغه ټوله مړه سوه نو پر مړه سوی خلکو باندی الله پاک ډبری واورولې، اندازه ولګوی دونه قهر الله پاک ته پر دې عمل باندی ورځی، ووایاست آیا د مرګ وروسته څوک مړی په سوټی وهی؟

که ستا یو دښمن مړ سی نو د مرګ وروسته ته هغه په سوټی نه وهې دغه وایې چی صاحبه اوس خو مړ سو اوس یې څه په سوټی وواهم لاکن حق تعالیٰ دونه ورته په قهر سو چی د خلکو د عبرت دپاره یې د مرګ وروسته ډبری هم پر واورولې او پر هره ډبره باندی د هغو نوم لیکلی وو،

حق تعالیٰ فرمایی قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ○ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِيْنٍ ○ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِيْنَ ○ (سورت الذاریات) ملایکو حضرت ابراهیم علیه السلام ته وویل چی موږ د یو مجرم قوم یعنی د قومِ لوط وطرفته را لیږل سوی یو چی پر هغو باندی ډبری و اوره وو پر کومو چی ستا د رب سره یو خاص نښان هم دی یعنی حق تعالیٰ ته پر هره ډبرَه باندی د هغو نوم هم لیکلی دی او هغه ډبری د مُسرفین یعنی تر حد اوښتو خلکو دپاره دی.

مجازی عشق لوی جرم دی

بعضی خلک وایی صاحبه د نامحرمه ښځو او لغړزنو هلکوانو سره عشق کول څه پروا لری؟ نو ددې جواب د قرآن پاک په دغه آیت کی دی

اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ

په دې آیت کی داسی عشق کونکی مجرم بلل سوی دی، دغه حرام عشق کول داسی جرم دی چی ددې ابتدا هم حرامه ده یعنی د حسن پر خاوند باندی نظر اچول هم جرم دی، دهغه سره خبری کول هم جرم دی، خوږ شی ورکول هم جرم دی، ورسره کښینستل هم جرم دی، دا ټوله کارونه کونکی په مجرمانو کی شامل سی ځکه چی د حرام مقدمه حرامه وی.

او دا جرم ولی دی؟ په یو مثال په دې سر خلاص کړی او پر خپل زړه لاس کښیږدی او د زړه څخه دا وپوښتی یو شخص چی ستا ډیر ټینګ دوست وی او ته دهغه عزت هم کوې لاکن هغه یو ورځ ستا زوی ته په بدنظر کتل او تا هغه ولیدی نو ووایه ته به بیا دهغه سره دوستی وکړې؟ ته به داغه ورته ووایې چی خبیثه زه به ستا سترګی راوکاږم، ته زما زوی ته په بدنظر کورې، نو پلار چی دخپل زوی سره څونه محبت لری تر هغه

دیر محبت حق تعالیٰ دخپلو بندګانو سره لری، په دنیا کی چی د یوه فیصد محبت دغه حال دی چی پلار دا نه غواړی چی څوک دی زما لور یا زوی ته په بدنظر وګوری نو حق تعالیٰ دچا سره چی ۹۹ فیصده محبت دی کله چی دغه محبت بنکاره سی نو خپلو بندګانو ته په بدنظر کتونکو څخه به څنګه انتقام واخلی او دهغو به څه حال وی، بلکې دخدای محبت خو تر سل فیصده هم دیر دی دا خو یو مثال دی چی په خبره د سر خلاصولو دپاره ویل کیږی.

دخدای دمخلوق سره د خیر خواهی معنی

نو دخدای وبندګانو ته، دخدای ومخلوق ته په بدنظر کتل او مخلوق چی دخدای عیال دی نو دا څونه لوی جرم دی، په حدیث شریف کی دی اَلْخَلْقُ عِیَالُ اللهِ فَاَحَبُّ الْخَلْقِ اِلَی اللهِ مَنْ اَحْسَنَ اِلٰی عِیَالِهٖ (مشکوٰة المصابیح، کتاب الاداب، باب الشفقة والرحمة علی الخلق، صفحه:۴۲۵) ټوله مخلوق دخدای عیال دی، بس په مخلوق کی دخدای تر ټولو دیر محبوب او خوښ هغه دی کوم چی دخدای د عیال سره ښه وضعیت کوی.

لهٰذا کافر هلک ته هم په بدنظر کتل روا نه دی، دا بین المللی جرم دی، دا نه سی ویل کیدای چی دا خو کافر دی یا عیسوی دی یا بنګی دی څکه چی حق تعالیٰ کافر ته هم په بدنظر کتل منع کړی دی چی کافر خو دی لاکن دخدای بنده هم دی، که د یو چا زوی نافرمانه دی، د پلار خبره نه منی نو پلار دخپل نافرمانه اولاد دپاره دغه نه غواړی چی څوک دهغه سره لواطت وکړی نو حق تعالیٰ هم دخپلو نافرمانو بندګانو په باره کی ددې شی اجازه نه ورکوی چی څوک دی هغوته په بدنظر وګوری او دهغو سره دی غلط کار وکړی، که تاسی لندن ته ولاړ سی او د یو انګریز کافر زوی مو ومخته راسی نو هغه ته هم تاسی په بدنظر نه سی کتلای.

یو سړی راته وویل چې انجونی پر سړکانو او په بازارو کی بې پرده کړځی، رقصیږی او ځان بنکاره کوی نو چې هغه خپله ځان بنکاره کوی نو په کتلو کی زمور څه تاوان دی؟ ما ورته وویل چې په یو مثال دی سر در خلاصوم، که ستا د یو دوست لس لونی دی، نه لونی خو یې دخدای دوستانی دی، په پرده کی دی هغه ځوک نه سی لیدلای او یوه لور یې د فلمو انجلی سوه، رقص یې شروع کړی او یو ورځ تا دهغې رقص لیدی چې ستا دوست د چا چې دغه لور ده هغه ته ولیدې نو ستا دوست به تاته داغه ووایی چې تا زما لور په داسی حال کی ولی ولیده؟ تاته خو پکار وه چې په سجده کی دی سر ایښی وای او وخدای ته دی ژړلی وای چې یاالله دا زما د دوست لور ده، نافرمانه ده، رقصیږی، دا فرمانبرداره کړې او تقوا ور په نصیب کړې بیا به زه پوه سوی وای چې ته زما دوست یې لاکن تا دخپلی دوستی دغه حق ادا کړی، ته به دهغه څخه خوابدی سې.

نو دغه رنکه حق تعالیٰ ته هم پر خپلو بندګانو باندی غلط نظر کونکو او دهغو سره غلط کار کونکو باندی ډیر قهر ورځی او پر هغو باندی دخدای د قهر عذاب مسلطه سی او قوم لوط ته چې مُسرفین وویل سوه نو دوی مُسرفین په دې خاطر وه چې هغو خپل منی او وینه د مرداری کولو پر ځای باندی ضایع کړه، په کوم منی چې انسان پیدا کیدی، په کوم منی چې اولیاء پیدا کیده هغه یې د مرداری کولو پر ځای ضایع کړه آیا دغه معمولی اسراف دی؟ دا ډیر لوی اسراف دی او ډیره لو ګناه ده.

نو زه دخدای د نسبت او دوستی اصول درته بیانوم، خواست درته کوم که دخدای دوستی غواړی نو دخدای د ټولو مخلوق سره په خپل زړه کی د خیر خواهی نیت وساتی، د هیچا دپاره نه په زړه کی باید غلط خیال در وکړځی او نه په سترګو کی، که په زړه کی غلط خیال در وکړځی نو

استغفار پر وکه چی یاالله پر خیالاتو باندی زما اختیار نسته خو بیا هم زه پر دې خیال باندی توبه کاږم او بخښه درڅخه غواړم چی ستا د مخلوق دپاره زما په زړه کی داسی خیال را وګرځیدی. که خدای کول نو انشاءالله په دې عمل سره به ډیره ګټه وی.

د بې احتیاطی تاوانونه

ښه یوه بله خبره درته بیانوم کوم شاګردان چی احتیاط نه کوی او په بدنظری او مجازی عشق اخته سی نو په دغه ګناوو او غلطو عادتو سره هغوته سخت تاوان رسیږی ځکه چی زه طبیب یم، ماته مریضان راځی په دغه خاطر په دې باره کی زما تجربه ډیره ده، شاګردان استاد ته دغه خبری نه کوی که استاد طبیب هم وی نو هغه ته بیا دغه وایی چی

۱) استاد صاحب نن سبا می سبق نه په یادیږی او کوم سبق چی په یاد کړم هغه می هیر سی.
۲) په دماغ کی یو څه کمزوری رامعلومیږی.
۳) ملا می سپکهِ سپکه درد کوی.
۴) کله چی بدیږم نو بجلکی می سوزش کوی.
۵) او سپک سپک درد هم کوی.
۶) د ناستی وروسته چی ولاړ سم نو پر سترګو می توره شپه سی.
۷) او کله کله می سر په له څرخی.

دا ټوله خبری په ځوانی کی دی کله چی صحت باید ډیر ښه وی، دا ټوله تکلیفونه د کومی خوا پیدا سوه؟ دداغه بدو کارو څخه، داسی څونه ځوانان دی چی دهغو ځوانی د حرام عشق او غلطو کارو په خاطر برباد سوه، اوس چی یې واده وکړی نو شرمیږی، د ښځی لایق نه سوه پاته، ددې غلطو کارو څخه د مردانګی طاقت ختم سی، ماته څونه ځوانان راغلله

هغو راته وویل چې صاحبه خپلې نسخې ته د مخ ور نکارد کولو لایق نه یم پاته، خسرکنې به مې طلاق راشخه واخلې ژر د طاقت یو دوا راکه، داسې تکلیف ولې پر راغلې؟ ددغه ګناه په خاطر، علم یې هم د لاسه ولاړې او عمل ته هم تاوان ورسیدې او داسې شاګرد نبه عالم هم نه سې جوړیدای.

لهذا د ټولو مدرسو دپاره د شاګردانو د اخلاقو حفاظت او پام ډیر ضروري دی، ځکه چې کوم شاګردان په دغه غلطو کارو کوم چې ما بیان کړه اخته سې دهغو څخه بیا سبقان پاته سې او که ملایان جوړ سې نو بیا هم دهغو هیڅ شی نه وی په یاد، په علمی لحاظ کمزوره وی او د واده دپاره یې مور او پلار په تکلیف وی چې واده ولې نه کوی؟ یعنی دین او دنیا دواړه یې برباد سې. په دغه خاطر مهتمم صاحبانو ته وایم چې پر کوچنیانو باندې نبه پام وکړی، که هغه لوی عالمان جوړول غواړی نو تقواداره یې کړی، په ګناه سره دماغ ته دونه تاوان رسیږی چې بیا سړی لوی عالم نه سې جوړیدای ځکه چې لوی لوی کتابونه د ویلو دپاره دماغ طاقت غواړی او په فسق او فجور سره د حافظې قوت ته تاوان رسیږی او په تقوا سره په علم کې برکت پیدا سې او حافظه هم قوی سې.

دخدای دوست عالم د جوړیدو دپاره دمولانا تهانوی صاحب دوې نسخې

په داغه خاطر حضرت تهانوی صاحب به فرمایل که یو څوک لوی او تقواداره عالم جوړیدل غواړی نو هغه دی دوه کاره وکړی،

۱) د استاد ادب دی وکړی ځکه چې په بې ادبی سره دعلم برکت ختم سی

۲) په تقوا او پرهیزګاری سره دی واوسیږی ځکه چې ګناهکاره سړی ته حق تعالی د علم نور نه ورکوی.

د علمی استعداد دپاره د مولانا تهانوی صاحب دری نسخی

یوواری یې وفرمایل چې کوم شاګرد دغه درې کاره وکړی نو دهغه د علمی قابلیت ذمه زه ورکوم،

۱) پر استاد باندی د سبق ویلو تر مخه دی د هغه سبق مطالعه وکړی.
۲) بیا دی (دهغه سبق په باره کی) د استاد تقریر په فکر سره واوری.
۳) د استاد د سبق وروسته دی یوواری تکرار وکړی.

مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه فرمایی چې د سبق ویلو تر مخه دهغه سبق مطالعه کول څه معنی لری؟ **تَمْيِيْزُ الْمَعْلُوْمِ مِنَ الْمَجْهُوْلِ** یعنی دهغه سبق په مطالعه کولو سره به تاته دغه درمعلوم سی چې په کومو خبرو باندی زه پوه سوم او په کومو نه سوم پوه، مثلاً په نیم سبق می سر خلاص سو او په نیم می سر نه سو خلاص، اوس نو چې په کوم شی سړی پوه نه سی نو د استاد خبری به په فکر سره واوری او ځان به په پوه کړی او څوک چې مطالعه نه کوی دهغه دپاره ټوله شیان بې کاره دی، دهغه په علم کی برکت نه وی.

کوچنی اولوی هلکوان دی یوځای تکرار نه سره کوی

او دغه خبره چې د سبق تکرار دی وسی نو دغه په یاد وساتی چې تکرار دی سړی دهغه چا سره وکړی په چا کی چې حسن او کښښ نه وی او څوک چې لغزښ وی یا په چا کی چې حسن او کښښ وی یعنی د ریږی او بریتو سربیره که دهغه وطرفته دکتلو شوق کیږی نو دهغه سره

دی سړی هیڅکله تکرار نه کوی کنې په تکرار تکرار کی به په مجازی عشق اخته سی.

ددې ماسوا یوه ضروری خبره دا ده چې دلته هره ورځ دحضرت تهانوی صاحب ارشادات او زما کتاب "د روح ناجوړی او دهغه علاج" د ویلو معمول باید جوړ سی او هره ورځ ذکر هم باید وسی، ددې دپاره پنځلس دقیقې وخت مقرره کړی، لس دقیقې د ذکر دپاره او پنځه دقیقې د بزرګانو یو څو ارشادات او نوری خبری د بیانولو دپاره.

د حضرت صاحب د دین خپرولو دپاره ناقراری او اخلاص

د هلکوانو دغه مضمون چې زه بیانوم نو دا څو زه خپل عزت په قربانولو سره بیانوم، خلګ وایی چې دغه پیر ته خو ټوله خبری ورمعلومی دی او بدګومانی راباندی کوی لاکن زه ددې پروا نه لرم، کوم مرض چې په دې زمانه کی ډیر سوی دی او دخدای څخه د محرومی تر ټولو لوی سبب دی آیا د خلګو د بیری په خاطر زه هغه بیانول پریږدم؟

د پیښور د ډاکټری په فاکولته کی چې کله ما دغه مضمون بیان کړی نو یو نیم زړو هلکوانو وویل چې دغه عالم خو زمونږ د زړو حال بیان کړی، په مونږ کی چې د ګناوو کوم مرضونه وه هغه یې ټوله بیان کړه، هغو ویل چې زمونږ د ملایانو څخه بد را تلل لاکن دده بیان خو مونږ لیونیان کړو، یوه هفته که مونږ دده سره نوره تیره کړو نو مونږ ته به ډیره ګټه را ورسیږی او کوم پروفیسر چې زما بیان هلته ټاکلی وو هغه راته وویل چې دا دونه بد اخلاقه هلکوان دی چې د استاذانو سره جنګونه کوی او استاذان د په عذابولو دپاره دهغو وهخته میزونه ټکوی لاکن ستا بیان یې په ادب او محبت سره

واوربدی او په آخر کی ټولو روغبړ هم در سره وکړی او بعضو زما د کراچی ادرس هم راڅخه واخیستی، دا څه شی دی؟ داغه خبره ده چی دخدای پر نامه باندی توفیق غواړم چی یاالله ته پر خپل نامه باندی ماته ځان، مال، عزت ټوله د قربانولو توفیق راپه نصیب کړې او زما دوستانو ته یې هم ورپه نصیب کړې. نو زه د خپل عزت په سودا دغه مضمون بیانوم او ما دا ولیدل چی د لوی لوی مدرسو شاګردان الحمدُلله زما په داسی واضح بیانولو سره ډیر خوشحاله سوه، نور خلک په داسی واضح بیانولو سره شرمیږی او وارخطا کیږی، د هندوستان، بنګله دیش او پاکستان د لوی لوی مدرسو علماوو او شاګردانو الحمدُلله دغه مضمون په اوریدلو سره زما کور ودانی ووایه، دا ټوله خبری د بزرګانو دی ما خو بس راټولی کړی دی، حق تعالیٰ چی دچا څخه وغواړی کار اخلی ـــ

این همه گلزار از ابرارِ ما

دا ټوله زما د شیخ مولانا شاه ابرارُالحق صاحب برکت دی او د چا په صحبتو کی چی زه اول کښینستلی یم یعنی د مولانا شاه عبدُالغنی صاحب او مولانا شاه محمد احمد صاحب دعاوی دی، د چا چی درې شیخان وی هغه که د یوه احسانونه بیان کړی او د نورو د احسانو ذکر ونه کړی نو دا بې وفایی ده، دا خو ټوله زما د بزرګانو د دعاوو ثمره ده.

یو څو شپې حرام ارمانونه په قربانولو سره دخدای دوستی عطا کیږی

یو څو شپې د ګناوو څخه احتیاط وکړی، یو څو شپې پر زړه غم یوسی بیا وګوری چی حق تعالیٰ خپل څنګه تعلق درکوی، کله چی خدای وزړه ته راسی نو د زړه څه حال وی؟ مولانا رومی صاحب فرمایی چی ـــ

باده از ما مست شد نی، ما از او

زه په شرابو نه یم مست سوی، بلکې شراب په ما مست سوی دی ـــ

قالب از ما هست شد نی، ما از او

دغه بدن زما د روح په سبب ولاړ دی، زما روح د بدن په سبب نه دی ولاړ

مخته مولانا صاحب فرمایی ـــ

باده در جوشش گدای جوش ماست

شراب په خپل مستی کی زما د مستی گدا دی

چرخ در گردش اسیر هوش ماست

آسمان خپل په څرخ کی زما د هوش او روحانیت د پراخه میدان یو بندی دی

ځکه چی کوم زړه ته حق تعالیٰ راسی نو د مځکی او آسمان سره راسی، د بې شمیره لمرو او سپوږمیو سره راسی او د عرشِ عظیم او چوکی سره راسی ـــ

اپنا عالم الگ بناتا ہے

عشق میں جان جو گنواتا ہے

ترجمه: خپل یو جلا جهان جوړ کړی، څوک چی په عشق کی ځان وسوځئ

جب کبھی وہ ادھر سے گذرے ہیں

کتنے عالم نظر سے گذرے ہیں

ترجمه: خدای چې کله زما په زړه کې تیر سوی دی، نو څو جهانه می تر نظر تیر سوی دی

دا شیان د ویلو نه دی، دخدای چې پر کوم زړه مینه راسی او پر کوم زړه چې د رحمت یو نظر واچوی، د سلو کالو کافر وزړه ته که خدای یووارې د رحمت په نظر وګوری نو په هغه وخت به هغه دخدای دوست سی، دخدای د شان ومخته بزرګی څه شی ده، دخدای د رحمت نظر څونه قیمتی دی دغه لږ په فکر کې ونیسی، په دې خاطر دوستانو په ژړا سره کار سمیږی، په زور سره نه سمیږی، په زاری سره کار سمیږی.

په څو واری تا توبه ماته کړې ده اوس نور پر خپلو لاسو او بازوګانو باندی باور مه کوه، دغه ووایه چې یاالله مونږ خپل لاسونه او بازوګان ډیر استعمال کړی دی لاکن مونږ په خپل محدود طاقت سره ستا پر غیر محدوده لار نه سو تلای لهذا ته زمونږ وخوا ته خپل د کرم لاس را وغځوه ــه

دست بکشا جانبِ زنبیلِ ما

ته زما د لمن وخوا ته خپل لاس را وغځوه او زما په لمن کې یو شی را واچوه ــه

آفرین بر دست و بر بازوی تو

یاالله ستا د جذب پر لاس او ستا د جذب کولو پر شان باندی دی سل واری آفرینونه وی

یعنی د جذب پر صفت **اَللّٰهُ یَجْتَبِیْۤ اِلَیْهِ مَنْ یَّشَآءُ** (سورت الشوریٰ، آیت ۱۳) باندی. بس حق تعالیٰ سړی مستوی، کنې زه هیڅ نه پیژنم ــه

میں خود آیا نہیں لایا گیا ہوں
محبت دے کے تڑپایا گیا ہوں
سمجھتا لاکھ اَسرارِ محبت
نہیں سمجھا، میں سمجھایا گیا ہوں

ترجمه: دلته زه راغلی نه یم را استول سوی یم، محبت په ورکولو سره ناقراره سوی یم، د محبت په رازو به زه څه پوهیدای، پوه نه سوم زه پوه کړل سوی یم

یعنی زه بنکله دیش ته راغلی نه یم را استول سوی یم، دا ټوله غیبی اسباب وی، نو مومن د نفس او شیطان په غلطو کارو او مرداریو کی خپل وجود ولی اخته کوی، هغه ته په کار ده چې دحق تعالیٰ د قرب د دریاب ویای ته ولاړ سی، کنې روح به یې بې ارزښته سی.

څنګه چې د ماهی شان دی چې د دریاب د اوبو پر خلاف روان وی لهٰذا ته هم د نفس د حرام خواهشاتو پر خلاف روان سه، نفس فنا کول زده که بیا خدای حاصلیږی، که خدای د حاصلولو او نفس د فنا کولو شوق ونه لری نو داسی سړی د محبت په دعوه کی درواغجن دی او د محبت په لار کی نرښځی دی.

پر نفس باندی باید د نارینه په شان حمله وسی

مولانا رومی صاحب فرمایی ـــه

ای مخنث، نی تو مردی نی تو زن
اې نرښځوکې نه ته نر یې نه ته ښځه یې

هسین، تبر بردار مردانه بزن

تبر را واخله او پر نفس باندی د نارینه په شان حمله وکه ځکه چی نفس د خپل خاصیت په حساب مؤنث دی، ښځه دی، په دې خاطر هغه ته د مؤنث ضمیر راجع کیږی، لکه څنګه چی د ښځی مکر او فریب ډیر لوی دی إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ (سورت یوسف: آیت ۲۸) د ښځی مکر او فریب ډیر لوی وی. دغه رنګه د نفس مکر هم ډیر لوی وی لهذا تر څو چې نارینه نه سې نفس په قبضه کی نه سی راتلای، وګوره که نر دلاوره نه وی نو ښځه دهغه په قبضه کی نه راځی، په داغه خاطر مولانا رومی صاحب فرمایی ـــه

هسین، تبر بردار مردانه بزن

پر نفس مؤنث باندی د نارینه په شان حمله وکه، که ته ښځی ته د ښځی په شان وې نو توله عمر به ښځه پاته یې، نارینه نه سې کیدای بلکې کیدای سی چې هغه پر تا باندی غالبه سی ـــه

چون علی وار این درِ خیبر شکن

په مثل دحضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه د خیبر دغه در مات که

د قرآن شریف ویلو فضایل

اوس نو په آخره کی مهتمم صاحبانو ته دغه وایم چی د حفظ کونکو کوچنیانو دپاره د قرآن شریف دغه درې فضایل په خپله ژبه ولیکی او وې لګوی.

۱) د قرآن شریف په ویلو سره د زړه زنګ لیری کیږی.

۲) د خدای محبت ډیریږی.

۳) د قرآن شریف پر هر توری باندی لس نیکیانی حاصلیږی که په مطلب یې څوک سر خلاص کړی که یې نه کړی خلاص.

درې فایدې خو دی دغه ولیکل سی کوم چی د ناظره قرآن شریف ویونکو دپاره دی او که چا قرآن شریف حفظ کړی هم وی نو

۴) هغه ته د جنت یوولس پاسپورټه حاصل سوه، په یوه پاسپوټ خو به خپله جنت ته ځی او په لس پاسپورټو به د خاندان په خلکو کی دهغو خلکو انتخاب وکړی پر چا چی دوږخ واجب سوی وی بیا به هغه په حق تعالیٰ وبخښی او د ځانه سره به یې جنت ته بوځی.

د قرآن شریف په آیتو سره د ګمراه فرقو رد

او څوک چی دغه وایی چی قرآن شریف بې له معنٰی ویل هیڅ ثواب نه لری نو هغه بې دینه او جاهله دی، ددې دلیل پر الٓمٓ باندی دیرش نیکی حاصلیدل دی، نبی علیه الصلوٰة والسلام فرمایی

مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِّنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا لَا أَقُوْلُ الٓمٓ حَرْفٌ وَلٰكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيْمٌ حَرْفٌ

(سنن الترمذی، باب فی من قرأ حرفا من القرآن ماله من اجر)

څوک چی یو توری د کتاب الله ووایی دهغه دپاره د یوه توری په عوض کی یوه نیکی ده او د یوې نیکی اجر د لس نیکیو په اندازه حاصلیږی، زه دغه نه وایم چی ټوله الٓمٓ یو توری دی بلکې الف جلا توری لام جلا توری او میم جلا توری دی

پر دې خبره فکر وکړی چی د مثال ورکولو دپاره نبی علیه السلام د الٓمٓ انتخاب ولی وکړی؟ کنې ټوله قرآن د تورو څخه ډک دی ځکه چی

د اَلله معنی بې له حق تعالیٰ هیڅوک نه پیژنی، بیا هم دهغه پر ویلو باندی دیرش نیکی حاصلیږی او ځکه چې یوه ډله د جاهلانو پیدا کیده چا چې دغه ویل چې بې له سر په خلاصولو قرآن شریف ویل بې کاره دی لکه څنګه چې نن سبا بعضی کمراه قسمه خلک داسی خبری خپوروی نو نبی علیه الصلوٰة والسلام دغه مثال په دې خاطر ورکړی چې سبا بیا څوک دغه فتنه پیدا نه کړی چې قرآن شریف بې له معنی ویل هیڅ ثواب نه لری، لهذا د نبی په ژبه دغه مثال تر قیامته پوری د فتنو رد دی.

دغه رنګه په قرآن پاک کی دی اِنَّهٗ هُوَالتَّوَّابُ الرَّحِیْمُ (سورت البقرة، آیت:۳۷) بې شکه چې الله تعالیٰ په کثرت سره توبه قبلونکی او دیر رحم کونکی دی. علّامه آلوسی په تفسیر روحُ المَعانی کی فرمایی چې حق تعالیٰ دلته خپل د توّاب د صفت وروسته د رحیم صفت ولی نازل کړی؟ په خاطر ددې چې حق تعالیٰ دغه رابنول غواړی چې ستاسی توبه چې زه قبلوم نو په دې خاطر یې نه قبلوم چې زه ددې پابنده یم بلکې سبب یې دغه دی چې زه رحیم ذات یم، د خپل رحمت په شان مو بخښم او د رحمت په شان ستاسی توبه قبلوم.

ځکه چې یوه ډله داسی پیدا کیده چا چې دغه ویل که بنده وخدای ته توبه وکاږی نو پر خدای باندی هغه بنده بخښل واجب سی، نَعُوذُبالله لهذا وروسته یوه ډله پیدا سوه چاته چې معتزله ډله ویل کیږی، دې ډلې دغه ویل چې د توبه کولو وروسته وخدای ته قانوناً خپل بنده بخښل لازم دی، علّامه آلوسی رحمة الله علیه فرمایی چې دغه آیت د معتزلې ډلی دپاره جواب دی چې زما توّابیت د قانون او اصولو پابنده نه دی، د توّاب لفظ وروسته د رحیم لفظ د معتزلې ډلی د رد دپاره نازل سوی دی، دا تفسیر روحُ المَعانی دی.

دقرآن شریف ویلو ادب

د قرآن شریف ویلو څلور فایدې خو وسوې اوس نو د قرآن شریف ویلو دریې ادبه دی.

۱) دحق تعالیٰ دَ کلام تلاوت دی سړی په محبت سره وکړی، ځکه چې د ربُّ العالمین او د ټولو جملنو د پالونکی کلام دی او د پالونکی سره د سړی محبت وی. د مور او پلار سره ولی محبت کیږی ځکه چې هغو پرورش کړی دی، اوس که څوک دغه ووایي چې مور مور او پلار پاللی یو نَعُوذُبالله حق تعالیٰ خو نه یو پاللی، نو مور او پلار خو خپل اولادونه خوړلی هم دی کله چې کاختی سوه او غله ختمه سوه نو مور او پلار د اولادو غوښی وخوړې، نو دهغو پرورش دخدای په پرورش سره دی لکه څنګه چې حق تعالیٰ لمر راپورته کوی او په لمر غله پخوی، که لمر راپورته نه سی او غله نه وی نو څونه پیسه داره چې دی آیا هغه پیسې خوړلای سی؟ په پیسو خوړلو سره آیا څوک ژوندی پاتیدای سی؟ لهٰذا دخدای کلام په محبت سره ووایاست.

۲) په عظمت سره یې ووایاست ځکه چې د لوی احکمُ الحاکمین کلام دی.

۳) په دغه فکر سره یې ووایاست چې خدای ماته د ویلو حکم راکړی دی.

دغه د نن د بیان پیته باید ټوله د مدرسې خاوندان واخلی ځکه چې د لغړزنو پر موضوع باندی په دونه تفصیل سره بیان څونه چې دلته وسو زما نه په یادیږی چې په دونه جوش سره او دونه ښه بیان دی بل ځای سوی وی، حق تعالیٰ دې قبول کړی، آمین

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

دربیانِ مذمت بدنگاهی

بدنگاهی کی شود یار خدا هست تقویٰ شرطِ دربارِ خدا

بدنظری کونکی دخدای دوست نه سی کیدلای ځکه چې حق تعالیٰ د خپلی دوستی دپاره تقوا شرط کړې ده، حق تعالیٰ فرمایی چې هیڅوک زما ولی نه دی بې له تقواداره بندکانو

بدنگاهی نیست دربارِیّ حق هست تقویٰ شرطِ دریارِیّ حق

بدنظری کونکی دحق تعالیٰ درباری نه سی کیدلای ځکه چې دهغه د دربار دپاره تقوا شرط ده

فاسقی را عاشقی نامش دهی خویش را تو خود فریبی می دهی

اې شخصه! ته بدنظری کوې او د نافرمانی نوم عشق ایږدې، بس ته خپل ځان ته دوکه ورکوې چې فسق عشق بولې

در شریعت بدنگاهی فسق شد پس چرا فسق تو پیشت عشق شد

په شریعت کی چې بدنظری فسق [illegible] ده نو ولی دغه فسق تاته په نظر [illegible]

فاسقی از اولیاءالله نه شد [illegible] پاک از عشق غیرالله نه شد

هیڅ فاسق ولی الله نه سی کیدای بس [illegible] بدنظری څخه اې دخدای طلبکاره توبه ضروری ده، ترڅو چې د غیرالله څخه زړه پاک نه سی دخدای ولی نه سی کیدای

مثنوی اختر

شیخ العرب والعجم عارف باللہ مجدد زمانہ حضرت مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ

دینی او اصلاحی مجلس واوری | حضرت سید عشرت جمیل میر صاحب رحمۃ اللہ علیہ
www.hazrsimeersahib.com

در بیانِ لذتِ ذکرِ محبوبِ حقیقی

ذکر حق ای دل برای عاشقان همچو مرهم هست بر زخمِ نهان

اې زړه! دخدای ذکر د عاشقانو د پټ زخمی زړو دپاره په مثال د مرهم دی

زین سبب عشاقِ حق اندر جهان بی سر و سامان شدند رشکِ شهان

ددې دولت په سبب دخدای عاشقان په دې دنیا کی د خالی لاس کیدو سربیره دپاچاهانو دپاره د فخر سبب

زین سبب عشاقِ حق قاصر شدم گر چه اندک نیست سخن ناشر شدم

زه دحق تعالیٰ د ذکر خوند دبیانولو څخه عاجزه یم که څه هم په بیان کی لږ لږ دغه خوشبویی نشروم

من چه گویم لذتِ نامِ خدا لذتِ هر دوجهان پیشش گدا

زه څه ووایم چی څه خوند دی په ذکر کی، د دواړو جهانو خوندونه د هغه خوند ومخته بې قدره دی

شیخ العرب والعجم عارف باللہ مجددِ زمانہ حضرت مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب رحمۃ اللہ علیہ